# دنیا

صفیه حلیم

دچاپ کال

۱۳۸٤ق/تله سپتمبر ۲۰۰۵

خپرونکې: سوما خپرندویه اداره_ننگرهار

دچاپ شمیر ۱۰۰۰ ټوکه

کمپوز: محمد جعفر هاند

نیمگړې دنیا ته ډالۍ

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړۍ برخه

دنیا اور پرسته ده خو ډېر خلک اوس هم  باور کوي چې دنیا زر پرسته وه
او تل به همدغسې وي.  دنیا نه د خپل او نه د بل مذهب په هکله خبرې
.کړې وې.  عجیبه خبره دا وه چې ما دنیا په افریقه کې موندلې وه
زما اوس هم هغه ورځ په زړه ده چې په جنوبي افریقه کې مې یوه اوونۍ
شوې وه.  زه د ډربن په ښار کې د افریقه د یوې نومیالۍ ښځې زلېخا په
کورکې دېره ومه.
د هغې خاوند سلېمان نومېده او دوې دواړه د نیلسن منډ له نږدو ملګرونه
فعاله غړی و.  د ا فریقې دې ملي ګوند د نژادي  ANC وو.  سلېمان د
توپیر پر ضد ډېره مبارزه کړې وه، سلېمان څو وارې بندې خانې ته هم
.ورلېږل شوی و او زلېخا د ښځو د یوې مجلې مدېره وه
زه د خپلې کمپنۍ له خوا ډربن ته وراستول شوې اوم  چې د نوي ټیلې
ویژن لپاره دفتر پیدا کړم او د ځانګړو پروګرامونه لپاره کار وکړم.  پورا
درې میاشتې به مې په ډربن کې تېرولې.  په هندوستان کې رانه ځوې او
خاوند پاتې و. زلېخا زما ډېر خیال ساتلو او ننیې ټول دوستان را بللي و چې
.له ما سره و پېژني
په دې مېلمنو کې دنیا هم وه هغې سپینه ساړې ترلې وه، اوږدو وېښتو تهیې
څو وارې تاو ورکړی و او د یو وړوکی پنډوکی په څېر د دې پر څټ
پروت و.  دنیا ډېره نرۍ او دنګه وه، د لاسونو ګوتیې هم نازکې وې خو
ګوته په کې نه وه.  ما اندازه ولګوله چې دا ناواده ده،  د دې سترګې لکه د
نورو  هندې نژادو ښځو  غټې نه وې بلکه اوږدې وې او ماتهیې د چغتایي
ارټ هاغه زاړه انځورونه را یا دول چې په کې د ښځو او سړو سترګې
.اوږدې اوږدې وي.  د هغې ټول وجود یو افسانوي کردار ته ورته و
ما په محفل کې ډېرعکسونه واخیستل او  هغې په هر عکس کې خندل خو ما
.ته به داسې ایسېده لکه چې ژاړي
هغه ماښام ډېرعجیبه وه او زلېخا زما لپاره ډېره ښه میلمستیا جوړه کړې
وه.  ګجراتي خواړه، افریقایي موسیقي او د هر نژاد مېلمانه... په ډربن کې
له دوو سوو کالو را هیسې د هند خلک د مزدورۍ لپاره ورتلل او ډېرو په
کې هلته کورونه جوړ کړې دي.  د نژادې توپیر پر ضد دې خلکو هم د
.تور پوستو سره اوږه په اوږه کمپاین کړی و

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مېلمستيا کې هر چا له ما د هند حالت پوښتلو. په دوې کې ډېر هم هلته په ډربن کې زېږېدلي و د خپل مور او پلار نه يې د هند کيسې اورېدلې وې او اوس دوې له ما د اورېدو کېسو ثبوت غوښتل. دنيا هم ډېرې پوښتنې وکړې او ما ورته ځوابونه هم وېل. د شپې نا وخته چې ټول مېلمانه ولاړل نو ما د زلېخا او د هغې د خدمتګارانو سره د لوښو په را ټولو پېل و کړ. مونږ خبرې هم کولې او د ځينو مېلمنو په هکله مو يو بل ته معلومات ورکول. ما څو وارې خوله خلاصه کړه چې د دنيا په هکله هم څه وواېم خو زلېخا به خبره واړوله. اخر پوښتنه مې ترې وکړه نو راته يې وويل، " دنيا اور پرسته ده، يواځې اوسېږي، يوه خور يې په انګلستان کې ده. دا د يوې لوې کمپنۍ مشره ده چې په ټول افريقه کې څانګې لري. د زلېخا د خبرو نه مې هڅ ووهلو چې دنيا ډېره شتمنه ده. د شپې مې په خپله کتابچه کې د سفر يادانښتونه ليکل او د دنيا په هکله مې يوه جمله ولېکله، "دنيا يوه معما ده".

راتلونکي څو ورځې ډېرې ژر تېرې شوې. زه به ټوله ورځ بهر وم، ډېرو نورو خلکو سره مې ولېدل، ماښام به په ټيلې فون اخته شوم. په ډېلي کې مې د خپل دفتر د مشر سره خبرې کولې هغه ته به د ورځې د کار راپور په کار و. کله کله به مې خاوند او زوې روپک سره هم خبرې کولې. روپک هغه وخت د څوارلسو کالو وو.

يوه ورځ زلېخا او سلېمان دواړه د يو کانفرنس لپاره جوهانسبرګ ته ولاړل. د دوې لور هم هلته اوسېده او زړهيې و چې د کانفرنس نه وروسته يو څو ورځې د هغې سره پاتې شي. زه په کور کې د يو څو نوکرانو سره پاتې وم. په دريمه ورځ يوې تور پوستي خدمت ګارې راته وويل چې د ډوډۍ شيان په خلاصېدو دي. زه د هغې سره نږدې بازار ته ولاړم، سودا مې وکړه، درنې خلتې مو را واخيستې او سړک ته را وو تلو.

په دې کې مې دنيا وليده چې هغې هم سودا کړې وه او د خپل موټر لورې ته روانه وه. زهيې ولېدم نو ودرېده، حال احواليې رانه وپوښتو، بيايې وويل، "کور ته به څنګه ځې؟" ما ورته وويل، " يوه ټيکسي به ونيسو" هغه نا راضه غوندې شوه. ما ته يې داسې وکتل لکه يو مور چې ماشوم ته خبرداری ورکوي. " ته خبره يې چه دلته کله کله ټيکسي په لاره کې ودرول کېږي او د مسافرو نه سامان او مال هر څه وړي" ما داسې کيسې اورېدلې وې خو اوس بله لاره نه وه. هغې راته وويل، "تا سو به ما سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځئ" مونږ.خپل سامان د هغې موټر ته يوړو. په مخکې سيټ د هغې ډريور
ناست و خو دنيا موټر په خپله چلوو. د موټر د روانېدو سره ټېپ چالان
شو او يوه غمژنه هندي سندره پېل شوه.

دنيا په ټوله لار زما د کارونو په هکله پوښتنې کولې. د زلېخا کورته چې
را ورسېدو نو سامان مو ښکته کړو. اوس دنيا په دې ټينګار کوو چې زه
دې هغې سره ولاړه شم. يو څه بحث نه وروسته ما د هغې خبره ومنله.
خدمتګارې ته مې وويل، " که زلېخا ټيلې فون وکړو نو ورته ووايه چې زه
د دنيا کور ته تللې يم او د يوولسو بجو نه وړاندې به راځم" زلېخا يا
سلېمان به هره شپه له جوهانسبرګ نه ټيلي فون کوو او زما حال به يې
پوښتلو.

د دنيا کور د يوې غونډۍ د پاسه و. دلته ډېرو شتمنو خلکو په داسې
غونډيو کورونه جوړ کړي و او تاو راتاو سړک هر کورته رسېدلی و. د
غونډۍ د پاسه په وروستۍ ګوټ پېر چې ورسېدو نو دنيا موټر ودروو.
ښکته شني ونې او بوټې دومره ډير و چې سړک په کې نه ښکارېدو. دنيا
يو څو شېبې ښکته کتل او ما داسې وګڼله لکه چې دا د دې سيمې د ننداري
لپاره ودرېده. ما هم ښکته کتل، بيا مې وويل، " څومره ښايسته ځای
دی...ستا د کور دا لاره مې ډېره خوښه شوه". دنيا هيڅ ونه وېل، موټريې
روان کړو او بيا د دې د کور په لويه دروازه کې داخل شو.

د دې دروازې نه تر کوره پورې هم سړک پوخ جوړ و هرې خوا ته شنه
بوټې، ونې او د افريقائي ګلونو مېلې جوړې وې. هغې موټر ودروو نو
مونږ را ښکته شو. د يوې بلې دروازې نه ور دننه شو چې د هغې يوې
خدمتګارې ورته خلاصه کړې وه. دننه يوه وړه کوټه ورپسې دالان او بيا
د نا ستې لويه کوټه وه.

د دې لوېې کوټې په منځ کې د نيمې سپوږمۍ په شکل يوه ستنه ولاړه وه د
دې ستنې رنګ طلايې و او په کې يو لوی طلايې طشت ايښی وچې وړه
ډيوه په کې بله وه. د کور نور سامان هم ډېر قيمتې و، يو څو تور پوستې
خدمتګاران اخوا دېخوا ګرځېدل. دنيا ما نه معذرت وغوښتو او دننه د
خوب کوټې ته ولاړه. يوه خدمتګار راته د تازه مېوو اوبه په ګېلاس کې
راوړل.

ما د کوټې يو يو شي ته کتل او د هغوې ستاينه مې په زړه کې کوله. ډېر
وخت تېرشو او دنيا چې بېرته راغله نو جامېې بدلې کړې وې. د افريقايي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډوله اوږد نسواري کميسيي اغوستي او وېښتهيي خلاص پرېښي و چې د دې تر ګونډو رسېدل. ما ته نا ببره خپله پوښتنه راياده شوه چې دومره ښکلې او شتمنه ښځه ولې يواځې ژوند کوي؟ خو دومره مې نشو کولی چې له دنيا وپوښتم. زه تراوسه دنيا ته دومره نه وم نژدې چې داسې پوښتنه مې ترې کړې وې

تر ډېره وخته مو زما د کار په هکله خبرې کولې هغې راته د افريقه د ځينو نوميالو خلکو نومونه او ټيلي فون نمبرې راکړې چې د کار لپاره مې په کارې وې. په دې کې يوې خدمتګارې د ډوډوی غږ وکړو او مونږ پاسېدو. د ډوډۍ په کوټه کې مېز د رنګا رنګو خواړو ډک و. ما د هغې نه پوښتنه وکړه چې "که نن زه درسره نه وای نو تا به دا خواړه څنګه خوړلې؟" دنيا په زوره وخندل، " نن ډېره ښه ورځ ده چې زه په دې مېز ډوډۍ خورم. نور کله زه په يو پتنوس کې د ټي وي مخې ته د ما ښام ډوډۍ خورم" ما د هغې د کار او د دفتر په هکله پوښتنې پيل کړې. دنيا راته د خواړو شيان هم راکول او ورو ورو د خپلې کمپنۍ په اړهيې خبرې هم کولې.

دوې تجارتې مالونه د اوبو د لارې يو او بل هيواد ته ورلېږل. دا به کله کله نورو هيوادونو ته هم ورتله. ما ترې پوښتنه وکړه چې ايا دا کمپني هغې په خپله جوړه کړې وه؟ نو هغې لنډ ځواب راته راکړ، " نه په ميراث کې راته پاتې شوېده." مونږ لا ډوډۍ نه وه خلاصه کړې چې ټيلي فون وغږېدو او هغه د ډير وخت لپاره په خبرو بو خته شوه. د شپې لس بجې شوې نو هغې پخپله راته د تللو وويل. په دې ښار کې نا وخته ګرځېدل خطر لري. د هغې د ډرايور سره يوه خدمتګاره هم مخې ته په موټرکې کېناسته او زهيې د زلېخا کور ته بوتلم.

راتلونکې څو ورځې نورې هم مصروفې وې. د هندوستان نه زما د ټيلي ويژن د شبکې نور خلک د کېمرو سره رارسېدلي و. د ډربن نه څو ميله لېرې د "فينکس" نومې ښار ګوټې کې د مها تما ګاندهي د ژوند په هکله يو سېمينار جوړ شوې و. ګاندهي د دې ښار نه د قانونې وکيل په توګه په کار پيل کړې و. هغه وخت په هندوستان کې چا د ده نوم هم نه و اورېدلی. د هند د کانګرس ګوند بنسټ په دې ښار ګې ايښودل شوی و. مونږ د ګاندهي په ژوند د يو فلم په پلان کار کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په فینکس کې زما د استوګنې لپاره د زلېخا ورورابراهیم د خپل کور دروازې راته پرانستې وې. ابراهیم په خپله قانوني وکیل و او یوه لور یې وه چې په پښو معذوره او ټوله ورځ به یې خطاطي کوله.
د یوې اوونۍ د سخت کار او منډو ترړو نه وروسته زما همکاران ولاړل او زه د دوو نورو ورځو لپاره په فینکس کې پاتې شوم. د ډېرو ورځو وروسته مې بېګاه شپه په ارامه خوب وکړو او سحر نا وخته را پا څېدم. د ابراهیم مېرمنې زبېدې خپله لور یو نندارتون ته بېولې وه. زه د ناستې کوټې ته را ښکته شوم چې هره ورځ به دلته مونږ ټولو د سحر چای څښلې. زما د کار د کاغذونو یوه بېګ هم دلته اېښی و. د دې نه مې ټولې دوسیې او کاغذونه راوویستل او کوم عکسونه چې چاپ شوي و، هغه مې په بېلابېلو لفافو کې کېښودل. اضافه کاغذونه مې یوې خوا ته غورځول او د ناستې د کوټې ټول مېز مې نیولی و.
ایبي چې د ابراهیم د ور نوم و، بهر په باغ کې بوټو ته اوبه ورکولې او د چایو لپاره چې را دننه شو نو زما په ځینو عکسونویې نظر پرېوتو. په دې کې یوه د دنیا رنګین عکس و چې ما د لومړي مېلمستیا په وخت اخستی و. داسې عکسونه به کله نا کله ما د یو مضمون سره د هندوستان ورځپاڼو ته هم ور لېږل. ایبي ښه شېبه عکس ته وکتل او بیا یې رانه پو ښتنه وکړه ، " ته دنیا له نږدې پېژنې؟" ما ورته د هغې ماښام کیسه وکړه چې دنیا له ځانه سره بیولې وم.
ایبي په صوفه کېناستو او بله پو ښتنه یې رانه وکړه، " ستا په فکر دنیا زر پرسته ده ؟" ما ته د ایبي دا پوښتنه احمقانه ښکاره شوه. "په دې نړۍ کې کوم کس دی چې مال او زر یې نه خوښېږي؟" ما د ځواب په ځای ترینه پو ښتنه وکړه نو ایبي یو څو شېبې غلی پاتې شو . بیا یې ووېل، "ستا څه خیال دی چې دنیا ولې واده نه دی کړی؟" ما ورته ووېل، " نن سبا ډېرې ښځې چې لوړو ځا یونو ته رسېدلې دي، واده نه کوي...دا څه دومره حېرانونکې خبره هم نه ده" په دې وخت کې خدمتګار د پتنوس سره را دننه شو او مونږ په چایو اخته شو.
ایبي راته د خواړو شیان په پلېټ کې اېښودل او زما د خبرو په ځواب کې لګیا و، " زه دا منم چې ځینې ښځې د خپل مسلک کار یا د سبق لاره خپله کړي نو واده کړی ژوند ورته عبث ښکاري، خو دنیا یوه معمولي ښځه ده هغې سبق هم زیات نه دی وېلې" ما د دنیا دفاع وکړه، " دا ښایې چې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره استعداد لري چې بې له اوچت تعليم د پلار دا لويه کمپنۍ دومره په کا میابۍ وچلوي" " د پلار کمپنۍ ...ها ها ها ها" ايبي يو بړچ ووهلو او تر څو چې ده خندل ما د ده د غټې خېټې ننداره کوله چې ښکته پورته کېده .
بيا دی نا څاپه د خدمتګار په ليدلو غلی شو چې د ګرمو چايو د چېنک سره .را دننه شو
ما د چايو پياله ډکه کړه او ايبي نه مې پوښتنه وکړه، " دنيا د پلار د کمپنۍ وارثه نه ده؟ هغه يو څه په طنز او يو څه په افسوس راته وويل، " نه دا کمپني د دې د پلار نه ده...د دې د تره او ما ما هم نه ده..." زه حېرانه شوم، " نو بيا چا ورته دومره سخاوت کړی دی؟" ايبي ووېل، " د دې د مور څوک لېرې خپل و... لکه چې د ما ما زوې يې و...اسمعيل سېټهه... قريباً پنځوس کاله کېږې چې دا کمپنۍ يې جوړه کړې وه... ته خو خبره يې چې د نژادي توپير په کلونو کې تور پوستو او غنم رنګو نه شو کولې چې لوې کاروبار په لاس کې واخلي. خو اسمعيل سېټهه د بمبۍ يو تجار و او د سپين پوستو په حکومت کې يې ځيني خلک پيژندل چې د هندوستان نه دلته راغلی و، ځکه هغه ته د دې کمپنۍ د دفتر پرانستلو اجازه ورکړی شوې وه. دا د هندوستان د يو مسلمان تجار لومړۍ کمپني وه"
ودرېږه...يوه شيبه... ما ايبي ته لاس وخوځوو. " اسمعيل سيټهه مسلمان و. دنيا زردشتي مذهب منونکې ده، د دوې خپلوي څنګه کېدی شي؟" ايبې د چايو پياله پرمېز کېښوده او وې وېل، " هم هاغسې لکه چې د ګجرات محمد علي جناح ښځه زردشتي وه" زه يو څه پيکه شوم، خو بيا مې د ايبي نه پوښتنه وکړه، " اسمعيل سيټهه به اولاد نه لاره؟" ايبي ژر ووېل، " ".نه.... د اسمعيل سيټهه يو ځوی و چې شهريار نومېدو
د دې خبرې په اورېدو زما تلوسه زياته شوه، د سترګو په رپ کې مې په پخپله د دنيا او د شهريار د مينې داستان جوړ کړو. د هغه نه مې پو ښتنه وکړه، " ښه نو دنيا د شهريار خوښه وه؟" ايبي بيا په زوره و خندل او راته يې وويل، " بې شکه ته ډېره هوښياره يې زلېخا راته ستا د پوهې خبره کړې وه خو باور مې نه راتلو." زه په خپل صيفت اورېدو يو څه نا ارامه شومه خو بيا مې ايبي ته په سواليه سترګو وکتل، هغه راته موسکی شو او وويل، وروسته همدغسې وه خو د اسمعيل سيټهه او د دنيا د کورنۍ تر منځ .د ځمکې او د اسمان فاصله وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دنيا پلار د ډربن په لوی بازار کې يو وړوکی دوکان لرلو چې په کې
هندي مسالې او د خواړو شيان خرڅول. د دې مور په روغتون کې نرسه
وه، د دوی په درې اولادونو کې يواځې د دنيا ورور چې دی هم سلېمان
نومېدو سبق وويلو او په ملکي سروس کې يې کار پيل کړ، د دنيا مشره
خور تهمينه په کالج کې وه چې انګلستان ته په سبل ولاړه او هم هلته يې د
يو هندو ډاکټر سره واده وکړ. پاتې شوه دنيا نو دا په سبق کې ډېره
وروسته وه، د ښوو نځې تعليم چې يې خلاص کړو نو د تيارو جامو په يو
دوکان کې يې کار کوو.
ما نه خپل کا غذونه او عکسونه هير و او ايبي ته مې غوږ نيوې و، " ښه
نو دنيا بيا څرنګه د اسمعيل سيټهه د کمپنۍ مالکه شوه؟" ايبي د خپله ځاېه
را پاڅېدو او د دروازې لورې ته روان خبره يې جاري وساتله، " اسمعيل
سيټه چې مړ شو نو..." ما خبره د هغې له خولې واخيسته، " څنګه مړ
شو؟" ايبي ماته مخ راواړو او وې وېل، " دا هم يوه معما ده چې تر اوسه
نه ده حل شوې، دی يوه ورځ په کشتۍ کې موريطانيه ته د سبل لپاره روان
و، ښځه هم ورسره وه، چې د سمندر په منځ کې کشتۍ ډوبه شوه. دا د
هغه وخت ډير مشهور خبر و، حکومت ډيرې پلټنې وکړې خو د کشتۍ د
ډوبېدو سبب معلوم نه شو. دلته په ډربن کې داسې اوازه وه چې ګنې د
سپين پوستو يوې کمپنۍ چې د اسمعيل سيټهه سره رقابت لرلو، د ده لپاره په
سمندر کې کومه لومه اېښې وه.
زما سترګو مخې ته د ډربن د سمندر رڼو اوبو څپې وهلې. په دې ملک کې
د څرمنې د رنګ په اساس څومره خلکو سره ظلم شوې و. د زلېخا يوه بله
ملګرې چې رشېده نومېده، کونده وه. هغې راته د خپل خاوند د مړينې
کيسه کړې وه، دې په موټرکې کور ته را روان و چې په لاره کې د يوې
لارۍ سره يې موټر وجنګېدو، په موټر کې د ده سپين همکاران هم ناست و
هغوې يې سمدستې نږدی روغتون ته ورسول. د دې خاوند سپين پوست
نه لرلو او د هغه لپاره د تور پوستو د روغتون نه يو امبولانس را وغوښتل
شو. دا د روغتون د پېښې د ځای نه پنځوس کيلومټره لرې و، تر څو چې د
رشيدې خاوند روغتون ته وړل کيدو په لاره کې ساه ورکړه.
زه د خپلو خيالونو نه هاغه وخت را بهر شوم چې يو چا مې په اوږو لاس
کېښودو. دا د ايبي لور فاطمه وه چې په خپلې څرخې چوکۍ ناسته وه او
راته يې و خندل. زه را پاڅېدمه او د هغې مخ مې ښکل کړو، د ديارلسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کالو فاطمه دومره مینه ناکه او با حوصله وه چې کله کله به ماته د دې په حالت ژړا راتله. هغې د نندارتون نه راته د شنو طوطیانو د وزرونو جوړې غوږ والۍ راوړې وې. ما ترېنه د نندارتون په هکله پوښتنې کولې او دې راته په یوه ساه د خپل چکر کیسه وکړه. موریې لږ وخت لپاره کوټې ته سر را دننه کړی، خو بیا بې ولېدل چې زه د فا طمې سره مصروفه اوم نو پخلنځي ته ورغلې وه. ما نه د دنیا کیسه هېره وه او د فاطمې معصومو خبرو ته مې غوږ نیولې و.
بیا مې خپلو کاغذونو او عکسونو ته پام شو نو هرڅه مې راټول کړل او فا طمې ته مې ووېل، " زه د جا مو بدلولو نه وروستو درځم." ایبي لکه چې با غ کې و. فاطمې د خپلې څرخي چوکۍ مخ د کوټې هغې دروازې ته کړو چې باغ ته خلاصېده. زه خبره ووم چې هغه به ځان ته پخپله دروازه خلاصوي او بیا به چوکۍ په هغه سیمټي تختې ورغړوي چې هم د دې لپاره جوړه کړې شوې وه. هغه مې څو وارې په دې کار لیدلې وه.

په دې کور کې هره دروازه د فاطمې لپاره برابره کړې شوې وه، دوېم منزل ته د ختلو لپاره ورته یو برقي لفټ لګېدلی و، د ډوډۍ په کوټه کې د لوی مېز یو سر لږ ټیټ و چې فاطمې به ورباندې ډوډۍ خوړله. د هغې سره په خبرو به مې د زوی مینه ماته شوه، که څه هم هره دوېمه شپه به یا ما او یا به مې زوی راته ټیلي فون کوو او خبرې به مو کولې.
ده ځان له بېل کمپیوټر غوښتلو او پلار ورله اجازه نه ورکوله. یوه شپه ما د خاوند سره ډېرې اوږدې خبرې وکړې. زما زړه په مسافرۍ کې ډېر نرم شوې و او ما غوښتل چې زوی مې چې هر څه غواړي، ورته واخیستل شي. خو پلار یې راسره ډېر دلیلونه ووېل، یو دلیل یې قوی و او هغه دا چې په دوو میاشتو کې د ده د لسم امتحان کېدونکې و او مونږ غوښتل چې دی په پوره توجه امتحان ته تیاری ونیسي.

زه چې د غرمې د ډوډۍ لپاره بېرته ښکته ولاړم نو ایبي، فاطمه او زبیده درې واړه په باغ کې و. زما په لیدو زبېدې خدمتګارې ته اشاره وکړه او دوي په مېز د ډوډۍ شیان کېښودل، پاتې ورځ مې هم په باغ کې د فاطمې په خبرو اورېدو تېره کړه. زه بله ورځ د فینیکس نه تلمه، کډه مې وتړله او په زړه کې مې ډېرې خبرې د دنیا په هکله پاتې وې خو هیڅ موقعه پېدا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوه ځکه ايبي او زبېدې د فاطمې په وړاندې د نورو خلکو کيسې نه کولې
او مانه غوښتل چې د دوی د کور دا دود مات کړم.
په بل سحر وختې زه په کوچ (بس) کې بېرته ډربن ته روانه شوم. په لاره
کې مې د نورو ښارونو د سپل پلانونه جوړول. د "سپينو سپو" په نوم دا
کوچونه (بسونه) ډېر ارامه و، چای ډوډۍ به يې هم په کې ورکوله خو
کرايه يې دومره لوړه وه چې عامو خلکو به په کې سفر نه شو کولای. په
ډربن کې د دې کوچ په تم ځای راته سلېمان ولاړو. د هغه سره په موټر
کې کېناستم نو په لاره يې راته وويل، " تا پسې د هند نه درې پېغامونه
راغلي دي." زه وارخطا شوم، " خېريت؟" هغه راته ډاډ راکړو،" درې
واړه د دفتر نه و ، دوی د ايبي کور ته هم ټېليفون کړی و خو ته بيا وتلې
وې. "
کور ته په رسېدو د زلېخا سره مې روغبړ نه وروستو هند ته ټيلي فون
وکړو. خپل مشر راته ووېل، " بېرته راشه." هلته په دفتر کې د څه مودې
راهيسې د د دو همکارانو تر منځ شخړه روانه وه، دواړه له کاره ويستل
شوي و او زما ضرورت و. زما دفتر راته د بلې ورځې د الوتکې د سيټ
غم خوړلی و. ټيلي فون مې بند کړو نو زلېخا راته وويل، " زه پوهېدم چې
ته هيڅ نه شې کولای ځکه خو مې ستا لپاره نن الوداعي مېلمستيا جوړه
کړېده.
زه داسې نا ببره بېرته تللو ته هيڅ وخت تياره نه اوم. څومره پروګرامونه
مې جوړ کړي و. په يوه مياشت کې مې دوه درې نور ښارونه لېدل، بازار
نه تحفې اخيستل. ما د ټولو ملګرو لپاره چې هلته يې ما سره مرسته کړې
وه هيڅ سوغات نه و اخيستی. کله چې حالات زما په وس کې نه وې نو
سخته ژړا راځي، نږدې وه چې په لپو لپو اوښکې مې توې کړی وای چې
زلېخا راوړاندې شوه او زه يې په غېږ کې ونيولم. ما زړه کلک کړو او د
تلو لپاره مې تياری شروع کړه. په منډه بازار ته ولاړم او د خاوند او
زوی لپاره مې شيان واخيستل. د زلېخا د کور لپاره مې يوه لويه ګلدسته
واخيسته او کور ته راغلم. د ما ښام سره مېلمانه هم يو يو را ښکاره شول.

دوهمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر نور خلک چې مصروفه و هغوی ته مې په ټیلیفون خدای په اماني ووېله. دنیا هم راغله، هغه ستړې معلومېده، سترګې یې له خوبه ډکې ښکارېدې خبرې یې هم ورو ورو کولې. ما ترې پوښتنه وکړه، " ته ناروغه یې؟" هغه موسکی شوه، " نه... ستړې یم،" بیا یې د شونډو په منځ کې لکه د یوې سلګۍ یې ووېل، " له ژونده ستړې یم" ما غوښتل چې هغې سره یو ګوټ کې کېنم او ښې ډېرې خبرې ورسره وکړم. خو په مېلمستیا کې ټولو زما سره خبرې غوښتل. زما د صحت لپاره یو جام پورته شو، ګیلاسونه وجنګېدل، زلېخا او سلېمان د مالټو اوبه څښلې. زما دنیا ته پام شو، هغې خپل جام همدغسې نیولی و. د ډوډۍ پر وخت دې له زلېخا معذرت و غوښتو چې ستړې ده او کور ته تلل غواړې.

زه تر برنډې ورسره بهر ولاړم، دا ورو ورو په سپینو مرمرینو پوړو ښکته شوه. ما د دې پښو ته کتل، د ټیټې پوندې او د تورې څرمنې جوړ په ساده چپلکو کې د هغې ګلابې پښې ډېرې ښایسته ښکارېدې، نن هغې ژېړه او توره ساړي تړلې وه، دنیا ما په بل ډول لباس کې نه وه لیدلې.

د هغې په وېښتو کې به د رامبیل یوه لړۍ هم کله نا کله ټومبلې وه، خونن یې د وېښتو اوږده کمڅۍ په شا اوړېده را اوړېده. دنیا ورو ورو د خپل موټر په لورې ولاړه، ډرېور ورته دروازه خلاصه کړه او هغه په شا سیټ کې کېناسته. موټر چې لوې دروازې ته تاوېدو نو ما په وروستې ځل د دنیا څېره ولیده. هغې راته شیشې نه لاس وخوځوو اوما ته داسې ایسېده لکه چې یو ډیر ښه فلم وروستی غمژنه ننداره مې کوله. له دروازې اخوا تکه توره تیاره وه، ما غوښتل چې اوس په دې توره پرده نومونه راښکاره شي. کاشکې دا فلم وای، یو چا زما په اوږو لاس کیېښودو او زه یې دننه بوتلم.

په هغه ماښام هر چا چې راسره خدای په اماني کوله نو زما په سترګو کې به اوښکې راغلې. زما دا ټول ملګرې مسلمانان و، په جنوبي افریقې کې زه د ډېرو کمو هندوانو مېلمنه اوم. زلېخا او سلېمان زه په کور کې داسې ساتلې اوم لکه چې زه د دوې ډېره نږدې خپله اوم. زه چې تر څو ژوندې یم، د دوې د مهربانۍ بدل ورته نه شم ورکولی.

په بله ورځ د ډربن نه جوهانسبرګ او بیا له هاغه ځایه د هندوستان په الوتکه کې کېناستم. خپل وطن ته په راتلو ډېره خوشحاله نه شوم. بیا هم هغه دفتر وو، هم هغه ستړي کارونه. دا بې لا څه چې زمونږ په فلیټ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږګان پیدا شوي و. په دوو میاشتو کې زما کور د خاوند او د زوی د لاسه داسې شوی و چې د پېژندلو نه و. هر ځای چې یې ډوډۍ خوړلې وه لوښي یې هم هلته پرېښي و. زه دومره نا څاپه کورته راغلې وم چې دوی د صفایۍ لپاره وخت نه و پیدا کړی.

یوه جینۍ چې د ځای پاکولو او جامو وینځلو لپاره به راتله، د وخته تښتېدلې وه. زما اعصاب خراب شول هلته په جنوبي افریقه کې څومره خلکو ته مې بلنه ورکړې وه چې هند کې به زما په کور کې ایساریږئ. د ښاروالۍ خلکو ته مې ټیلي فون وکړو او دوې خپل کسان راواستول.

هغوي راته امر وکړو چې کور به یوې اوونۍ لپاره پرېږدو ځکه چې د موږګانو دارو زهرژن و. مونږ یوه هوټل کې کوټه په کرایه کړه او کله چې کور مو پاک شو نو بېرته ورته ورغلو.

زلېخا غوښتل چې هند ته راشي او د خپل مور پلار وطن ووینې خو دا موقعه ورته پیدا نه شوه. ما ټولو ملګرو ته ایمېلونه استول، دنیا ته مې هم څو وارې لیک ور واستوو خو هغې د یو ځواب هم را نه کړو، بیا مې .ورته ټیلي فون وکړو نو خدمتګارې راته وویل چې دا په کور کې نه وه.

ورو ورو زه پخپلو کارونو کې دومره بوخته شوم چې د جنوبي افریقې انځورونه مې د ذهن له پردو تت شول. یوه رابطه مې د زلېخا او سلېمان سره ټینګه وه چې دوې به کله کله راته ټېلي فون کوو.

بیا یوه اوونۍ داسې هم راغله چې ایبي راته ټیلي فون وکړو او د سلېمان د مړینې خبر یې راکړو. زمونږ ټېلي فون د دروازې سره جوخت د پخلنځې په لاره ایښی و نو زه هم هلته پر زمکه پرېوتم او دومره ډېر مې وژړل چې زوی وار خطا ګاونډ کې ډاکټر ته ټیلي فون وکړو. سلېمان یو ډېر اوچت انسان و، زما خاوند د زلېخا سره رابطه وکړه او زما حال یې ورته ووېل. زلېخا راسره خبرې وکړې او تسلي یې راکړه. زه حېرانه وم چې زلېخا څومره لویه حوصله لري.

زمونږ کمپنۍ د سلېمان پر ژوند یو اوږد راپور خپورکړو. د دې راپور لپاره ما خپل ټول توان یو ځای کړی و او پورا معلو مات مې خلکو ته ورکړل. د دې پېښې لا یوه میاشت نه وه تېره چې زما خاوند جیدار د زړه د حملې نه وروسته روغتون ته بوتلې شو. زه په هغه ورځ دفتر کې وم او تر څو چې روغتون ته رسېدم، دی بیا په هوش کې و. راتلونکې ورځې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرې ستړې کوونکې وې. د ډېلي ښار د زړه ډاکټران چې مونږ پېژندل د هغوې نه مو مشوره واخیسته.
د جیدار د زړه یو رګ بند شوی و او عملیات یې په هند کې کېدی شو، خو پیسه ورته پکار وه. په دوبۍ کې مې د ایندرور او د هغې خاوند سره هم هره ورځ خبرې کېدې. دوې راته صلاح راکړه چې هلته ورشو ځکه دوې ډېر ډاکټران پېژندل او په عملیاتو هم ډېر لګښت نه راتلو.
ما د خپل دفتر نه د یو میاشت رخصت واخیستو، خاوند ته مې بې له هغې د ناروغۍ رخصتې ورکړی شوې وه. د زوی امتحانونه مې سر ته رسېدلي و. ویزې مو واخیستې او دوبۍ ته ولاړو، ځو ورځې مو د معاینو او نورو معلوماتو کې تېرشول. د اپرېشن په ورځ مې زوی د ایندرور د اولادونو سره یو ځای د سمندر سېل ته ورواستوو. مونږ روغتون ته ولاړو.
کوز ماسپښین راته یو نرسې خبر راکړو چې عملیات پیلېږي. ایندرور مې په خپله هلته موجوده وه او زه په یوه کوټه کې د ټیلي ویژن مخې ته نا سته وم، د زړه دعملیاتو فلم یې په دې ټي وي ښکاره کوو. یو ځو ډاکټران او نرسان هم هلته موجود و. دا زما لپاره یوه نوې تجربه وه. د واده په شروع ورځو کې زما خاوند راته ځو وارې دا خبره کړې وه چې ته زما په زړه کې اوسې. اوس یې زړه ټولو لیدو. زما له سترګو اوښکې روانې وې، راسره ناستې یوې ډاکټرې تسلې راکوله، " داسې عملیات هره ورځ کیږي دا خو ډېرمعمولې ا پریشن دی"
دا خبره راته ډېرو ډاکټرانو ځو وارې کړې وه خو زه د سلېمان مرینې دومره وېرولې وم چې د هیچا په خبره مې تسلې نه کېده. ځو ساعته مې دغسې تېرشول نو زما د سترګو اوښکې هم وچې شوې. زه ډېره ستړې وم او یوې خبرې اورېدو ته مې ټول وجود غوږ.غوږ و. نه پوهېږم چې ماښام و او که شپه... زما ایندرور هغه کوټې ته راغله، زه یې په غېږ کې ونیولم او راته یې ووېل، " شکر چې ورور مې جوړ دی اپرېشن کا میابه و.
شپه مې هم هلته یوې کوټې کې وکړه. بل سحر مې چای وڅښلې او بیا یې راته اجازه راکړه چې زه جیدار ووینم. دی په هوش کې و خو د ډېرو خبرو اجازه ورته نه وه. ترغرمې ورسره وم، بیا مې زوی راغی او پلار یې یوه شېبه ولیدو. ما ته یې په غوږ کې وویل، " مورې زه ټوله شپه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوب کې وېرېدم." زړه مې بيا را ډک شو، بيګا شپه لومړی ځل و چې ده سره نه مور وه او نه پلار. د ده قد اوس تر ما لوړ و د لېرې به د يو سړي ګومان پرې کېدو. مونږ ورته ډېر اعتماد وربښلی و، د وړوکوالي نه يې خپل کارونه په خپله کول خو ما په خپل غم کې دا هېر کړي و چې دې اوس هم ماشوم دی.

يوه اوونۍ وروسته جيدار کور ته راغی، د ده د خواړو او د سپک ورزش پروګرام راته ښودل شوی و. څو ورځې چې تېرې شوې نو ايندرور مې د ده د بيا روغتيا په وياړ يوه وړه ميلمستيا جوړه کړه. مونږ په دوبۍ کې هيڅوک نه پېژندل خو ايندروراو د هغې خاوند د ډېرو همکارانو کورونو تلل راتلل نو په دوې کې يې ځينې راوبلل.

ما ډېره موده وروسته ځان جوړ کړ، دايندرور په وېنا مې سره بنارسي ساړۍ وتړله، که نه زه خو په هند کې هم ټوله ورځ په پتلون کې ګرځېدم.

يو څو کسان راغلي و، نور پاتې وو، ماشومانو ته مو د وخته ډوډۍ ورکړې وه او دوې بره په کوټه کې په کمپيوټر لوبې کولې.

يو وخت د دروازې ټلی وغږېده نو زه ولاړم چې مېلمانه را دننه کړم. هلته د پاخه عمر ښځه او سړی ولاړو، سړي راته خپل نوم ډاکټر شرما وښودو. ما ميرمن شرما او ډاکټر دواړو ته هر کلي ووېل، ځان مې وروپېژندلو او دوې مې د ناستې کوټې ته وروستل. مېلمستيا ډېره ښه وه، د ډوډۍ نه وروسته درې څلور وړې ډلې جوړې او خبرې پيل شوې وې. ما اندازه ولګوله چې په دې ټولو کسانو کې يو زه او يوه مېرمن شرما ډاکټرانې نه وو، نورو ټولو د طب او د مريضانو خبرې کولې.

مېرمن شرما يوې خوا ته غلې ناسته وه، زه ولاړم او هغې سره جوخته کېناستم. د څو خبرو نه وروسته زما له خولې د جنوبي افريقه د سفر يادونه وشوه. مېرمن شرما ټکان وخوړو، راته يې ووېل، " ته کوم ښار ته تللې وې؟" ورته مې ووېل، " ډربن کې وم خو نورو ځايونو ته هم تللې يم" ميرمن شرما ووېل، " په ډربن کې زما خور هم اوسېږي، د يوې کمپنۍ مشره ده، دنيا نومېږي. اوس ما ټکان وخوړو، هغه ښځه چې زه ورسره تېرو درې ساعتو کې معرفي شوم، د دنيا خور تهمينه وه.

دنيا څومره وړه ده، ما په هندي کې ورته ووېل، " بيا مې خپله خبره سمه کړه، " هغه دنيا نه چې ستا خور ده، دا دنيا چې مونږ پکې ژوند کوو."

تهمينې وخندل، " مونږ په وړکتوب کې دنيا پورې ملنډې وهلې، کله به مو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووېل دنيا فريب وركوي، كله به مو ووېل دنيا دروغژنه ده، هغې به مور ته ګيله يوړه نو مونږ. به وخندل چې دا خبرې خو مو دې دنيا پورې کولې"
د نومونو خبره ياده شوه نو ما تهمينې ته وويل، " په جنوبې افريقې کې د مسلمانانو نومونه ډېر محدوده دي، د ښځو نومونه زلېخا، زبېده او د سړو نومونه ابراهيم، اسمعيل دي. په هر کور کې دا نومونه اېښودل کېږي، په ډربن کې څوارلس سړي او يو څو ښځې په دې نومونو پېژنم."
په دې وخت کې نورو هم زمونږ. خبرو ته غوږ. نيولی و. زما خاوند ووېل، " نوم او شخصيت چې کله کله په خپلو کې سمون نه خورې نو زما کانه کېږي. پلار را باندې جيدار نوم ايښی و، يعنې زړه لرونکی او زه دا دی د زړه د لاسه ناروغه يم" ټولو په زوره وخندل. د خبرو لپاره نوې موضوع پيدا شوه. ما غوښتل چې د تهمينې سره د دنيا خبرې وکړم، دهغې حال وپوښتم. هغې هم له ما سره خبرې غوښتلې نو ورو غوندې بهر برنډې ته ووتلو. هلته د پروړ په چوکيو کېناستو، تهمينه هاغسې نه وه لکه چې دنيا وه، دمخ شباهت يې يو څه ورته وو خو تهمينه چاغه وه. وېښته يې لنډو او لمنه يې اغوستې وه. زه حېرانه شوم کله چې تهمينې راته ووېل، " دنيا له هغې درې کاله کشره وه او د هغې په بله خبره ډېره خواشينې شوم کله چې راته يې ووېل، " دنيا ډېره ناروغه ده" يو داسې عجيبه ناروغي ورته پيدا شوې ده چې د وجود رګونه يې په وچېدو دي. له ګرځېدو پاتې ده او اوس خو ورته څرخې چوکۍ اخيستل شوې ده ځګه د دې پښې اوس کار نه کوي.
ما ته د دنيا هغه وروستی انځورسترګو ته ودرېدو، د هغې ګلابي پښې او دهغې تګ. دا څنګه کېدی شي چې يو روغ جوړ انسان دومره ژر له پښو ولوېږي. د تهمينې په سترګو کې اوښکې راغلې خو ژر يې خپلې شونډې د غاښونو لاندې ونيولې، بيا يې يو اسوېلی وکړو، " دنيا ډېره بد بخته ده، څومره خلکو ورسره واده غوښتل خو دې همدغسې ژوند تېرکړو. تهمينې راته مخ راواړو او پوښتنه يې رانه وکړه. " ته خو د دينا په ژوند خبره يې؟" ما ورته ووېل، " ډېره نه...زما سفر لنډ و او دنيا په خپله ما ته هېڅ نه دې وېلې. تهمينې اسمان ته وکتل او لګيا شوه، " هم دغه خو غضب دی چې دنيا هيچا ته خپل د زړه حال نه وايې، لکه د لوند لرګی ورو ورو سوځي. زه يې خور يم خو دې کله هم د زړه خبره راته نه ده کړې."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما تهمينې ته ووېل،" دنيا د شهريار سره څنګه پېژندلې و؟" دې خو ستاسو خپل و. د ماشوم والې نه به يې تاسو کره تګ راتګ کوو؟"
هغې د کافي وړې پيالې نه يو ګوټ وکړ، " د شهر يار د موراو پلار تر مرګه مونږ چرته د دوې کورته نه وو ورغلي، دوې ډير اوچت خلک و.
د کشتۍ د پېښې نه وروسته زما مور پلار شهريار ته ورغلل چې د مړو په مراسمو کې ورسره مرسته وکړي. په دې وخت کې شهريار د پنځويشتو يا شپږويشتو کالو و، پوهنتون سبق يې ايله خلاص کړې و. زه په انګلستان کې وم، نه يم خبره چې دنيا کله د شهريار کورته ولاړه او څه وختې دوې يو بل سره وليدل. هغه وخت دنيا د ډربن په يو دوکان کې کار کوو، د اوولسو کالو وه خو مونږ ته بيخي ماشومه ښکارېده. په دې ورځو کې زما مور هم چې لا پخوا د سرطان په ناروغی اخته وه مړه شوه او زه چې جنوبي افريقي ته ولاړم نو راته اندازه وشوه چې شهريار زمونږ کور ته ډير تګ راتګ کوو. زمونږ کود تور پوستو يوې غريبې سيمې ته نږدی و او هلته د شهريار سپين موټر ته به تل واړه تاويدل را تاويدل."
تهمينې راته وکتل او بيا يې خپله خبره جاري وساتله، " دنيا ښايسته وه او د ډېرو ځوانانو زړونه يې په موټې کې و خو هيڅا جرات نه شو کولای چې دې ته ورنږدې شي. زمونږ مور راباندې ډيره سختې کوله او يو څه دنيا ته د خپل ښايست احساس هم و چې غرور يې ورکړې و. شهريار چې زمونږ کور ته راتلو نو هغې سره به يې نېغې خبرې نه شوې کولې. ما يوه ورځ د دنيا نه پوښتنه وکړه چې شهريار يې خوښېدو؟ دې راته سم ځواب را نکړو. زه بېرته انګلستان ته ولاړم او کله چې به مې پلار او ورور سره په ټيلي فون خبرې کولې نو دوې به د دنيا نه خوشحاله نه معلومېدل.
داسې يې راته وېل چې دنيا د شهريار سره په موټر کې ګرځي. په دوکان کې يې کار پريښی دی، د موټر چلولو زده کړه کوي. ما چې دا خبرې اورېدلې نو داسې فکر مې کوو چې دنيا شهريار ته ډېره نږدې شوې ده.
کال وروسته چې بيا پلار کره ولاړم نو دنيا راته هم دا وېل چې زه او شهر يارښه ملګري يو او بس..."
تهمينې د بلې خبرې لپاره خوله خلاصه کړې وه چې د نا ستې د کوټې نه زما ايندرور را ووتله، " تاسو دلته مجلس کوی...دننه ټول د جيدار د زړه فلم کتل غواړي. تهمينې او ما يو بل ته وکتل نو هغې په منفي کې سر وخوځوو. ما دا فلم ليدلی و او نور مې د کتلو توان نه و، "خدای خبر دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټران څومره کلک زړونه لري چې ټوله ورځ د مریضانو خبرې اوري، په مېلمستیاو کې له ناروغیو او د درملو نه علاوه بل څه خبره نه کوي او اوس دلته په کور کې هم دزړه عملیات ګوري" زمه په زړه کې وګرځېدل خو په خله مې څه وو نه ویل.
ایندرور مې په حال پوه شوه، د تازه مېوې یوه غټه کاسه یې راته کېښوده او پخپله دننه ولاړه. ما تهمینې ته یوه مالټا سپینه کړه، هغې یوه ټانګرۍ ترې واخیسته او ما ته یې وویل، " تا چې په وروستی ځل دنیا ولیده نو څنګه وه؟" دا لومړی ځل و چې هغې له ما د دنیا پوښتنه کړې وه. ما یوه منه سپینوله او هغې ته مې نه کتل. د دنیا هغه وروستی تګ مې په زړه شو، " دنیا ډېره ستړې معلومېده، داسې لکه چې خوب وړې وي".
تهمینې وویل، " زلېخا هم څو میاشتې د مخه راته دا خبره کړې وه خو هر وختې چې ما د دنیا نه په ټیلي فون پوښتنه کوله نو دې به راته ویل، روغه یم... د دې د وړوکوالې عادت و چې خپله ناروغي به یې د نورو نه پټوله.
بره په اسمان کې یوه الوتکه ډیره ټیټه د کور د پاسه تېره شوه او د هغې د غرارې له امله مونږ څو شېبې غلې ناست و. بیا مې پوښتنه وکړه، " په شهریار څه چل وشو؟ د تهمینې د خولې یوه غمژنه اسویلۍ را ووتله، هغه بد نصیب خو د موټر په پېښه کې ځوانې مرګ شو، ټوله کورنۍ په څو کالو کې داسې ورکه شوه چې ته به وایې، د ځمکې پر مخ چرې ژوندي نه و. ته که د دنیا کورته تللې یې نو د غونډۍ د پاسه کور ته تاوېدونکی په ورو ستۍ ګوټېېر د شناختې یوه تیږه لګېدلې ده. د شهریار موټرهم هلته چپه شوې و، ده به ډېر تېز موټر ځغلوو."
ماته هغه ماښام سترګو ته شو چې دنیا زه خپل کور ته بېولې وم، د غونډۍ په هغه ګوټېېر دې موټر ودرولې و خو ما د شنا ختې تیږه نه وه لیدلې.
دومره پوهه وم چې د دنیا لپاره هغه ډېرمهم ځاې وو. تهمینه پاڅېده او ګړۍ ته یې وکتل، " مونږ به ولاړشو، ښه شوه چې تا سره مې ولیدل."
هغې د ناستي کوټې ته په تلو تلو کې دا خبره کړه، زه هم ورپسې روانه شوم. ترهغې مې د هغې نه دا پوښتنه نه وه کړې چې دا او مېړه یې دوبۍ ته ولې راغلې و.
د مېلمنو د تلو نه وروسته راته ایندرور وویل چې د درملو په هکله یو لوی سېمینار شوی و او د نور ملکونو نه ورته ډاکټران راغلي و. د تهمینې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاوند ډاکټر شرما د هغې استاد پاتې شوې و. ما د تهمینې نه د هغې ټیلي فون نمبر واخیستو خو ډاکټر شرما راته ووېل چې دوې به ډېر ژر ډربن ته ورشي چې د دنیا د علاج لپاره څه بن بنا وکړي.
مونږ دوه اوونۍ نورهم په دوبۍ کې پاتې شو، جیدار اوس جک جوړ و. زوی مې نه غوښتل چې بېرته ولاړشي، د ترور د اولادونو سره یې ټوله ورځ نوي نوي پروګرامونه جوړول. خو زما دفتر راته نور رخصت نه راکوو. بیا فېصله مو وکړه چې زه به بېرته ولاړه شم او دوي پلار زوې به وروستو راشي.
ډېلي ته په رسېدو خپل مشر راته په لومړۍ ورځ د اقتصاد او د مالي خبرونو څانګه راوسپارله. په دې څانګه کې ډېره ګډ وډي وه، دوو کسانو د ډیرو پېسو لپاره نابېره په سي این این کې کار پېل کړی و او د خلکو مورال ډېر ټیټ و. بیا راتلونکي شپږ میاشتي زما لپاره ډېرې سختې وې، د نوو خلکو کار ته ګومارول، د دوې زدکړې او د نوي دفتر جوړول ټول زما په غاړه و. مونږ د یوې بلې نړۍ والې شبکې سره تړون کړی و چې نوي پروګرامونه به ورته جوړوو.
یوه ورځ خبره شوم چې د هند یوه تجارتي ننداړتون جنوبي افریقي ته ورلېږل کېږي. زمونږ کمپنۍ ته یې څلور د الوتکې ټکټونه مفت راکړي و. ما چې د دوې د پروګرام پاڼه وکتله نو پکې ډربن هم لیکلې و. زړه مې ډیر کېدو چې ولاړه شم، زلېخا، ایبي، زبېده، فاطمه او دنیا ټول راته مخامخ ودرېدل چې راشه.
زما د کال رخصت هم پاتې و، جیدار مې خبر کړو نو ده راته ووېل، " ولاړه شه یو څه ارام به هم وکړې." ما ورته وخندل، " دا ټکټونه مفت نه دي، د خرو په شان کارونه رانه اخلي" د دفتر مشر سره مې سلا وکړه او اخر د سفر لپاره مې تیاری پېل کړه. زلېخا ته مې ټیلي فون وکړو او زه یو وارې بیا د ډربن په هوائي مېدان کې ښکته شوم. بهر د زلېخا موټر او د دې پخوانی ډریور ډیوډ ولاړ و. زما سامان یې کېښودو او چې موټر کې کېناستمه نو راته یې ووېل، " ډېر وخت کېږي چې راغلې." ما ورته حېران وکتل نو ده په خندا د موټر شیشې ته اشاره وکړه،" دا بنده کړه" زما پام نه و، ګرمې مې شوې وه، د موټر شیشه مې خلاصه کړې وه.
په دې ملک کې د موټر شیشې خلک بندې ساتې، د کېناستو سره واړه او لوی چېغې کړې دروازې قلف او شیشې دې بندې وي. دټریفک په اشاره یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغو سړکونو چې موټرې ډېرې وي او ته مجبوره يې چې ورو لاړشې نو تور پوستي غلچکي هم غعسې په انتظار ناست وي لکه چې په ځنګلونو کې ګوک د ښکار لاره نيسې. بيا د سترګو په رپ کې لاس را دننه شي او هر څه چې شيشې يا دروازې ته نږدې وې، درنه ووړي. يوې ښځې د غوږ نه والۍ وشوکول شوه، د يو سړي دلاس نه موبايل ټيلي فون...ما دا کيسې ډېرې اورېدلې وې خو باور مې نه کېدو. خلک افساني هم جوړوي او په دې خبره زلېخا او نورو ډېر وخت زه ترټلې وم.
زه د خپلو فکرونو نه هغه وخت را اوتلم چې موټر د کور لوی دروازې کې دننه شو. د برندې مرمرينو پوړو ته تلونکي د سرو خښتو لاره هم هاغسې وه خو باغ يو څه مړاوې ښکارېدو. دا باغ د ازېليا د سرو، ګلابي او نارنجي ګلونو په بوټو ډک و خو اوس داسې ښکاريده لکه چې ګوک ورته پام نه کوي.
په زړه کې مې ووېل سلېمان به زوروم چې... او د سلېمان د تصور سره مې يو ټکان وخوړو. دې خو مړ و. د موټر د ودرېدو سره مې دروازه خلاصه کړه او په برنډه کې ولاړ زلېخا ته مې منډه کړه. زه د هغې په غېږ کې پرېوتم او له خولې مې دومره غمژنه چيغه راووتله چې د کور ټول خدمتګاران را باندې راټول شول. زلېخا هم ژړل او بيا زه يې دننه بوتلم. په يوه صوفه دواړه کېناستو او تر ډېره وخته مې د هغې په غېږ کې سر ايښې و، اوښکې مې نه ودرېدې. په دې کال کې دا دويم ځل و چې ما دومره ډېر ژړلي و. د جيدار د عملياتو په ورځ مې په زړه وه او اوس د زلېخا کور راته د سلېمان خبرې رايادولې. هيڅ باور مې نه کېدو چې دې مړ و.
هره ورځ زما کور ته په راتلو به ده ناره کړه، " او هندوې ډوډۍ دې خوړلې ده که نه؟" ما به ورته ناره کړه مسلمانه! بيا دې د غوايي غوښه پخ کړېده که څنګه؟" ده به په زوره زوره وخندل، " نه ښايسته افريقايي خنزير مې درته حلال کړی دی." زه په ژړا سترې شوې وم او زلېخا هم هلته په صوفه زما له پښو بوټان لرې کړل او زه وغځېدم. دې را باندې يوه نازکه کمبله وغوړوله، دروازه يې راپسې بنده کړه او زه يې يواځې پرېښودم.

## دريمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما څو شپې هم هلته ارام وکړو او د ماښام تیارې خپرې وې چې زلېخا را پسې راغله. زه بره خپلې کوټې ته ولاړم، ځان مې وینځلو او یو وارې بیا د زلېخا سره کېناستم. هغې راته یو فایل مخې ته کیښودړ، په دې کې د سلېمان د مړینې خبرونه چې په ورځپاڼو کې چاپ و په ترتیب ابښودل شوي و. په جنازه کې یې نیلسن منډېلا په خپله ګډون کړې و. د اې این سي د ګوند د ځینو مشرانو پېغامونه و او ما دا حقیقت ومنلو چې سلېمان اوس په دنیا کې نشته. د ډوډۍ پر وخت مې د زلېخا نه د دنیا په هکله پو ښتنه وکړه. هغې راته وویل، " دنیا په ختمېدو ده زیات وخت په کور کې وي، ټیلي فون ته ځواب نه وایي او که څوک یې لیدو ته ورځي نو دا ورسره نه ویني" د دنیا کوراوس د نوکرانو په لاس کې و، یوه نرسه د ورځې او یوه د شپې دهغې د خدمت لپاره ساتل شوې وې. د دې خور تهمینه او ډاکټر شرما دوه وارې ورته راغلي و. د دې د وینې هر ډول معاینې شوي وي، دعصبي ناروغیو لویو لویو ډاکټرانو د تشخیص لپاره خپل زیار ویستلي و، یوه ډاکټر چې د جاپان نه د کوم کار لپاره راغلې و، هغه هم خپل وس کړی و.
خو د دې د مرض تشخیص نه وشوی، ځکه خو علاج یې هم نه و معلوم.
د دنیا د وجود په نیمه برخه کې هیڅ خوځښت نه و، پخوا یې پښې داسې وې بیا لینګي او اوس تر ملا ځان یې نه شو ښورولی. په لاسونو کې یې یو څه زور پاتې و چې دې به په کور کې د دفتر کارونه کول. هره ورځ سحر لس بجې د دې د کمپنۍ دوه با اعتباره کار کوونکي رابرټ او ګیټي به ورته کورته ورتلل او د کاروبار چارې به یې په مخ بېولې. دنیا به په کاغذونو دستخط کوو.
په بله ورځ زه د زلېخا موټر کې کېناستم او سحر لس بجې د دنیا کور ته ولاړم. ما غوښتل چې کله دا د کمپنۍ د منشي او د خپلې مرستیالې سره کېني نو زه یې وینم. خو هلته خبره شوم چې دنیا نن ستړې وه او ګیټي او رابرټ نن نه راتلل.
زه د دروازې نه بېرته تلم چې یوې نرسې راته د دنیا د لاس لیکلی پېغام راوړو. په دې کې هغې خپل معذرت لیکلی و چې راسره نه شې لیدې، خو ماښام یې د راتلو بلنه راکړې وه. زه د هغه ځایه ننداتون ته ولاړم، ټوله ورځ مې کار وکړو. مازدیګر چې زلېخا مې ولیده نو هغې ته مې د دنیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره وکړه. زلېخا ډېر په افسوس ووېل، " ته خبره يې چې د دنيا نيم وجود شل دی، دا په کټ کې اړخ نه شي بدلولی، هر يو ساعت کې نرسه د دې وجود په کټ کې بلې خوا ته اړوي چې په ملا يې زخمونه جوړ نه شي."
په ما دا خبرې ښې نه لګېدې. د دنيا کور ته مې د تلو لپاره تياری کوله چې د هغې يوې نرسې ټيلي فون وکړو. راته يې ووېل چې هغه له ما سره نه شي ليدی ځکه ډېره ستړې وه.
زه ناهيلې شومه او په هغه شپه ما د زلېخا په وړاندې بيا ژړل. هغې راته د دنيا او د شهرېار کيسه وکړه. شهر يار د مور او پلار له مړينې وروسته د دنيا وجود ته پناه وړې وه. ده غوښتل چې دنيا هره ورځ ووينې، هر ماښام به يې ورته ټيلي فون کوو خو تسلي به يې نه کېده. په شروع کې دنيا د شهريار دومره پروا نه کوله خو د مورد مړينې نه پس هغه يوڅه ازاده شوه. د موټر چل يې زده کړو، د دوکان نوکري يې پريښوده، بيا خبر شوچې شهريار ورته په خپلې کمپنۍ کې کار ورکړې و.
د دې کمپنۍ يو کارکوونکی د سلېمان نږدی ملګرې و او راته يې ووېل چې دنيا هيڅ په بزنس نه پوهېده خو شهريار ورته ډېر لوی دفتر ورکړې و.
دنيا به کله دفتر ته تله او کله به نه تله. د دې کار هم معلوم نه و چې څه کوي خو شهرېار ورته موټر هم واخيستو. پلار يې په دې تسلي و چې لور به يې ښه شته من خپلوانو زوی سره واده شي نو دې به هم بې غمه وي.
ټول ښار خبر و چې دنيا او شهريار به يوه ورځ واده کوي. دواړه به يو ځای مېلمستيا ته تلل. د دنيا په غاړه به هره ورځ نوې جامې ښکارېدې. د وېښتو دوه کمڅۍ يې يو شوې وې، د پټلون پر ځای به يې ساړي تړله او کله کله به يې په نرو لېچو کې بنګړي هم شړنګېدل.
د شهر يار په کور کې د يويشتم مارچ د نوروز پارټي هم کېده، دا دود هم د دنيا د پاره يې پيل کړې و، که نه د شهريار پلار خو مسلمان و. په دې مېلمستيا کې به د خلکو دا هيله وه چې دنيا او شهريار به د خپل واده يا لږ ترلږه د کوژدې اعلان کوي خو داسې به نه کېده.
د دنيا په ژوند کې هر کال يوه غمژنه پېښه کېده، يو کال يې مورمړه شوه ، بل کال ته يې پلار له دنيا سترګې پټې کړې، په دريم کال کې ورور يې د ډربن په ساحل ځينو تورو پوستو د پيسو لپاره ووژلو. د هغه دوه اولادونه پاتې شول، دنيا غوښتل چې د کونډې ورېنداری سره ژوند وکړي خو هغې بل واده وکړو او له دنيا يې ځان ګوښه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زلېخا سترګې پټې کړې، لکه چې هغه وختونه یې یادول. ما له هغې پوښتنه وکړه، " دنیا خو ستا هم ملګرې وه، تا ورته څه ونه ویل؟"
زلېخا سترګې پرانستې نو په هغې کې یو نا معلومه درد ښکاره شو. "دنیا په ما ډېره ګرانه وه. ما له زړه غوښتل چې هغه خپل کور اباد کړي خو د دې ډېرعجیبه طبیعت و، خود سره وه. که چا به ورته وویل، شهریار ښه هلک دی نو دې به سمدستي پوښتنه ورغبرګه کړه چې څه ښه والی لري؟ ما به ورته ویل په نړۍ کې ډېر کم سړي داسې دي چې ښکلي، شته من او لایق وي او تا سره مینه هم ولري. هغې به ما ته وویل چې، ته څه خبره یې چې شهریار ما سره مینه لري؟ ما به د هغې په غاړه اوېزان غټ الماس ته ګوته ونیوله چې دا چا درکړی دی؟ هغه به موسکی شوه، شهریار، او هغه موټر، ما به د هغې شین کرولا ته اشاره وکړه، او ستا د جامو اومېلمستیاو خرڅ او ستا د کار معاش چې مفتو کې یې اخلې. ما به په یوه ساه هغې ته دا شیان ورياد کړل نو هغې به ژر زما په خوله لاس کېښودو چې بس دی مه رایادوه، دا ټول شیان د مینې اظهار نه دی؟"
زلېخا راته په سوال وکتل، " ته څه فکر کې چې یو سړی هره ورځ یوې ښځې ته قیمتي شیان اخلي، دا دمیني نښه ده او که نه؟" د ځواب لپاره مې دخپل خاوند څېره مخې ته شوه. زمونږ د واده اوولس کاله کېده، یاد مې نه دي چې په تېرو پینځو کالو کې یې راته څه سوغات اخیستی وي. د واده لومړۍ کالیزه کې یې یو د عطرو بوتل راته راوړې و. په دریم کال مې زوی شوی و نو هرسوغات به د ده په ویاړ و. بیا مې چرته د ده په لاس کې نه ګلدسته ولیده، نه چاکلیټ او نه عطر...هن رښتیا یو وارې د ملګرو سره په چکر بمبۍ ته تللی و نو راته یې د سپینې سپېی والۍ هم راوړې وې. قیمت یې هم راته ویلی و چې پوره لس روپۍ و. بیا که مو جنګونه کړي دي او که سېل له تللي و، هیڅ شی مي د ده نه ترلاسه نه کړو.
د جیدار د ژوند عجیبه فلسفه ده، وایي چې مینې د څرګندلو لپاره د سوغات او د ډالۍ څه ضرورت نشته. دا چې د شپې ډوډې په کور کې خورم، ټوله تنخوا مې په کور کې خرڅېږي او نورو ښځو پسې مې هوس نه وي، دا ډېره لویه تحفه ده. زه د زلېخا په خبره د خپلو خیالونو له نړۍ را بهر شوم. " د دنیا په یوه خبره به زه ډېره نا ارامه شوم، کله چې به مې ورته د شهریار صفت وکړو نو دې به راته دسلېمان ستاینه پېل کړه چې ما د څومره لایق او مهربانه سړي سره واده کړې دې. کاشکه شهریار هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلېمان په شان وای." د زلېخا په سترګو کې د کرکې یوه څپه مې ولیده خو ډېر ژر یې سترګې پټې کړې لکه چې وېرېده... هسې نه زه د دې په منفي احساساتو خبره شم.

ما نه غوښتل چې د زلېخا احساسات نور هم را وپاروم خو بیا مې زړه صبر نه شو، له خولې مې را ووتل، " دنیا له سلېمان سره کله نه پیژندل؟ " زلېخا ووېل، " د هغې ورځې نه چې زه واده شوم. دنیا له ما لس کاله کشره ده، مونږ د افریقي د ملي کانګرس په غونډو کې یو بل سره پېژندلي و. دا لا په ښوونځي کې وه او د ځوانانو په جلسو کې به ډېره فعاله وه. سلېمان د نېلسن په نږدې ملګرو کې و او ده سره د واده نه وروستو زه هم سیاست کې داخله شوم. زمونږ د ټولو ښځو د فعالیتونو تر شا سلېمان ولاړ و. ده زما سیاسي روزنه هم کړې ده او په دې لاره کې ډېرې ښځې زمونږ کورته راتلې. د نېلسن منډېلا ځیني سیاسي ملګري به په ډربن کې زمونږ په کور کې ایسارېدل. دلته څو وارې سپین پوستي پولیسو چپاونه کړي دي. مونږ یوه مجله په پټه چاپوله او د شپې به مو په خلکو وېشله. د دنیا په شان ډېرو ځوانانو د دې مجلې ګڼې په خپلو بستو کې ګرځول او ښوونځي په لاره به یې د خلکو کورونو ته اچول.

وروسته چې شهریار دې ته موټر واخیستو نو د چاپ ټول کارونه به یې سرته رسول. زما لپاره د دنیا په هکله دا معلومات نوي و. تر اوسه مې داسې فکر کوو چې دنیا د غربت د ژوند نه د مینې دلارې شته من ژوند ته تللې ده. خو دا چې هغې په وړوکي عمر کې د نژادي توپیر پر ضد په فعالېتونو کې هم ګډون کړی و، زما لپاره د منلو نه وه. دنیا به هغه وخت څنګه ښکارېده؟" زما د دې پوښتنې په ځواب کې زلېخا پاڅېده او خپلې کوټې ته ولاړه. لږه شېبه وروسته د عکسونو یو زوړ البم سره بیرته راغله، عېنکې یې په سترګو کړې او راسره جوخته کېناسته.

د زلېخا تور او سپین عکسونه و، د سلېمان د ماشوم والي او د دوې د واده په عکسونو کې دواړه ډېر ښکلي ښکارېدل. بیا عکسونه رنګین شول، د اې- اېن- سي د غړو ګروپ عکسونه و. په یو رنګین عکس زلېخا خپله ګوته کېښوده، سلېمان سره څلور ځوانې جینکۍ ولاړې وې، درې په کې ما پېژندلې هم دوې کې دنیا هم ولاړه وه. نسواري لمنه تر ګونډو پورې،سپین لنډ کمیس او سپین بوټان او جرابې، دوه لوې لوې کمڅۍ یې مخامخ تر لمنې ځوړندې وې. د نورو جینکو نه لوړه او د سلېمان سره داسې جوخته ولاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه لکه چې څوک ماشوم د خپل پلار تر څنګ ولاړوي. مونږ د البم پاڼې اړولې او زما تلوسه وه چې د شهریارعکس هم ووینم خو عجیبه خبره وه هلته د زلېخا د دومره نږدې ملګرې د چنغول یو عکس هم نه و.
زلېخا ووېل،" شهریار په خپل کاروبار کې ډېر کامیابه و، دهغه ناسته پاسته ټوله د کاروباریانو سره وه. دلته چې به راغلو او مونږ به د ملک په سیاست خبرې پېل کړې نو دې به یا په ټیلي فون اخته شو او یا به یې څه بانه وکړه او ځان به یې وویستلو. یوه ورځ شهریار او دنیا دواړه زمونږ کور ته راغلل. مونږ د رابن جزیرې د نېلسن بندي خانې پورې د یو لوی مارچ تابیا کړې وه چې د جنوبي افریقه له ټولو ښارونو به تېرېدو. دا هرڅه مو له پولیسه پټ ساتلي و. په پوسټرونو او بېرغونو د شعار د لیکلو کار د ډېرو ورځو نه پېل شوې و. هر چا خپله برخه په کور کې ساتلې وه. د دنیا داسي کارونو سره ډېره علاقه وه، هغې په خپل کور کې کمپیوټر ایښی و، دا هاغه وخت و چې ډېرو کمو خلکو سره کمپیوټرو، لکه چې دا هم شهریار ورته د امریکه نه راغوښتې و.
په دې ماښام مونږ د مارچ په وروستی پروګرام یو نظر اچوو. دنیا د سلېمان سره د ډلو د مشرانو په نومونو بحث کوو. زه به هم په کې کله کله ورولوېدم خو شهریارغلی ناست و، داسې لکه چې دې ټول کار سره د هغه هیڅ شوق نه و. زه پاڅېدم او شهریار ته مې ووېل، " په لویو ښارونو کې د جلسو پروګروام هم چاپ شوی دی، غواړم چې یو نظر یې وګورې.
شهریار ما سره هغه وړوکې کوټې ته راغلو چې ما به د خپل دفتر په توګه کاروو. ده یوه شېبه هغې وړې کتابګوټي ته کتل چې په هغه ورځ دنیا د یو پټې مطبعې نه راوړی و. داسې پنځوس زره نورکتابونه دنیا پنځوسو نږدې ملګرو کورونو ته رسولي و.
شهریار په ځای د دې چې راته یې د مضمون او چاپ په هکله نظر راکړی وای، د دې کتابګوټي د لګښت په هکله پوښتني کولې. ده هېڅ سیاسي نظر نه لرلو. ما غوښتل چې ده نه معلوم کړم تر څومره حده زمونږ د مارچ سره مالي مرسته کولي شي او چې پوښتنه مې ترې وکړه نو وې وېل،" دنیا تاسو سره ده. دا ډېره لویه خبره ده هغه چې هرڅه کوي زه پرې خوښ یم." ما ترېنه د کوژدنې او د واده په هکله وپوښتل نو دی ګیله من ښکاره شو."

(c) ketabton.com: The Digital Library

زلېخا لږ غلې شوه نو ما ورته ووېل، " که دوي په خپلو کې ډېره مينه کوله نو بيا هغه کوم طاقت و چې د دوې د يو ځای کېدو مخه يې نيوله.
د دنيا مورپلار او ورور ټول مړه و. دا هم خپلواکه وه او شهريار هم. نو دا څنګه کېدی شي چې دنيا بې له سببه د شهريار سره د واده فيصله نشوه کولې؟" زلېخا نا ارامه شوه او ماته داسې احساس يې راکړو چې هغه خبره وه... د هغه څه نه، چې دنيا يې فېصلې کولو ته نه پرېښوده خو ما ته يې وېل نه غوښته. " يو لوظ راسره کوې؟" زلېخا نا څاپه زه د خپلو خيالونو نه راوويستلم، " زه درته دا خبره کووم خو ځان سره به يې ساتې." ما ورته وخندل، " هره ښځه بلې ته خبره کوي او وايي ځان سره يې ساته، خبره دې ستا او زما تر منځه وي، بيا چې خبرېږې نو د ټول ښار ښځو ته يې هم داسې وېلي وي."
زلېخا زما په خندا په قهر شوه، " زه چې نه اورې نو ورشه خپلې کوټې ته، شپه ډېره تېره شوېده" هغې به کله کله ما سره نازونه کول. زه په کټ اوچته کېناستمه او ورته مې وويل، " زه لوظ کوم چې ستا خبره به هېچا ته نه کوم، خو که بل څوک ترې خبر وې نو بيا به يې ليکم." زلېخا يو بل بالښت د سرلاندې کيښودو او وې وېل، " دنيا د سلېمان سره هم ډېره ملګرتيا لرله خو د هغې خبرې زما نه خوښېدې. زما سياسي فعاليتونه ډېر شوي و، دنيلسن د راخلاصولو لپاره په ټولې نړۍ کې جلسې کېدې. د سپين پوستو د حکومت سره هم خبرې روانې وې.
زما په کور کې به هره ورځ غونډې کېدې. دنيا به تر شپې نا وخته زمونږ په کور کې وه. د هغې په موټر کې به سياسي فعالين يوې او بلې خوا وړل کېده. بيا چې دې به خپل کور ته د تلو خبره وکړه نو سلېمان به نه پرېښوده چې يواځې ولاړه شي. ده به خپل موټر راوويستلو، که څه هم شهريار ورته وېلي و چې پداسې وخت کې هم دې ورپسې راتلی شو. خو سلېمان به هم دغه وېل چې اوس به شهريار ته څه تکليف ورکوو. د سلېمان په موټر کې به دنيا مخکې کېناسته او زمونږ ډرايور ډيوډ به د دنيا ګاډی روان کړو. د ورځې به هم چې زمونږ موټر مصروفه و نو دنيا به د سلېمان سره ګرځېده.
کله کله به مې احساس کوو چې په سياسي ډګر کې زه ډېره وړاندې راوتلې يم او شا ته سلېمان او نوردوستان رانه پاتې دي. کله کله دنيا به د سلېمان په کومه خبره په زوره زوره وخندل نو زما زړه به ډوب شو. سلېمان چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کوم انداز دنیا ته کتل، هغه زما نه خوښېدل. زه به ډېره په قهر شوم او یوه ورځ مې د هغه سره جنګ وکړو. خو سلېمان راته ډاډ راکړو چې هغه اوس هم له ماسره مینه کوي او دا چې بدګوماني ښه شی نه دی" د زلېخا په سترګو کې رڼا وځلېده، مخامخ په دېوال لګېدلی د سلېمان تصویر ته یې داسې کتل لکه چې عبادت یې کوي.

زه په ټوله کیسه پوهه شوم چې د دنیا سلېمان خوښېدو، ځکه خو یې د شهریار سره د واده فیصله نشوه کولې. په هغه شپه ما د دنیا څېره بیا بیا په خوب کې لیده. د هغې د ژوند هر یو راز راته اوس څرګند و. دنیا څومره ځان نیولی ساتي، داسې فکر کوي چې هېڅوک د دې په احساساتو نه پوهېدل. سحر راته یوه بله پوښتنه پیداشوه. شهریار د دنیا سره واده یا نکاح نه وه کړی، نو بیا څنګه د هغه ټول مال دولت د دنیا په برخه شول؟ د زلېخا نه مې په چایو دا پوښتنه وکړه نو هغې ووېل، " داسې ښکاري چې شهریار د وړاندې نه هر څه د دنیا په نامه لیکلي و." خو زما زړه ته دا خبره نه لوېده.

په بله ورځ بیا منډې تررې وې. په نندارتون کې ګډون کوونکې د هند یو لوی تجار د شپې چا وژلی و. دی د خپل هوټل نه چې د سمندر په غاړه جوړ و د شپې چکر لپاره راوتلی و، سیګرټ یې څکول چې ورباندې دوو کسانو حمله وکړه. ښایي چې غله و. دی په چاقو ووهل شو او تر څو چې یې روغتون ته رسولو دی مړ و.

د ژورنالسټانو غوا لنګه شوه، هر چا د دې خبر اصل کیسې ته درسېدلو هڅه کوله ځکه د هوټل خادمانو پولیس ته وېلي و چې د هوټل نه یوه ډله کسان چکر ته وتلي و. زما د ژورنالسټانو نه دوه کسان په دې کیسه اخته شول. زمونږ کېمرې او سامانونه چې په بېړۍ کې بار و، تر هغې نه و رسېدلي او زه ترهې ونیولم. مازیګر څلور بجې ما د ښاروال سره مرکه هم کوله او زمونږ دوه کېمرې په کارې وې. یوه همکار مې د بېړۍ شرکت ته ټیلي فون وکړو او دوې ووېل، " چې زمونږ سامان په بندرکې دی، مازیګر به یې هوټل ته رسوي.

هم هغه شېبه مې فېصله وکړه چې زه به په خپله بندر ته ورشم چې کار ګړندی شي. زلېخا ته مې وویل او د ډیوډ سره په موټر کې د بندر لورې ته ولاړم. کیمره مین محمود هم راسره و. افریقائي پاچا د کمپنی نوم و، د دوې دفتر ډېرلوې او بهر د خلکو ګڼه ګوڼه وه. مونږ ډېر په کړاو دننه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړو او مشر سره مو د ليدو غوښتنه وکړه. د ده دفتر ته چې وردننه شو نو يوه ښځه هلته ناسته وه. ما د ورتلو سره خپله ستونزه مشر ته بيان کړه، دا چې مونږ دهند نه ورغلي و نو ډېر درناوی يې راته وکړو خو دا يې نه منل چې زمونږ سامان دې له نورو وړاندې راو ويستل شي. ما ورته د تجار د قتل خبره وکړه، نو دې يوه څه نرم شو. ما نه يې د سامان د نمبر کاغذونه واخيستل او بهر ووتلو، محمود هم ورسره ولاړو.

ما د هغې ښځې سره خبرې پېل کړې. د هغې نوم شيرين و، زما په ذهن کې يوه ټلۍ غوندې وغړېده. له هغې مې وپوښتل چې " ته فانوس شرکت کې کار کوې؟" هغه ډېره حېرانه شوه، راته يې ووېل، " ته لکه چې ما پېژنې؟" ما ورته ځان ور وپېژندلو او دا چې د زلېخا نه مې د هغې نوم اورېدلی و. بيا مې ترېنه د دنيا په هکله وپو ښتل نو هغې هم ډېر په خفګان راته د دې حالت بيان کړ، دا يې هم راته څرګنده کړه چې دنيا د کله راهيسي دفتر پرېښی و، هغې نه وه ليدلې. د رابرټ او ګيتي نه به يې معلومات اخيستل، په مياشت کې يو وارې د شرکت د کارکوونکو په غونډه کې به د دنيا له خوا يو پيغام هم ولوستل کېدو.

شيرين او ما تر ډېره وخته خبرې کولې او يو وارې مې ترېنه د شهريار پوښتنه وکړه نو دې خبره واړوله. بيا زمونږ د سامان بکسونه د ګمرک نه تېرشول او محمود راته خبر راکړو چې هر څه په موټر کې بار شوي دي.

شيرين راته خپل کارټ راکړو چې که وخت مې پيدا کړو نو د فانوس شرکت ته ضرور ورشم. په هغه ورځ مونږ د شپې تر لسو بجو په کار اخته و، کور ته چې راغلم نو زلېخا راته په انتظار وه. د دنيا پيغام هم را رسېدلې و. هغې زه بللې وم خو زه تر دريو ورځو ډېره مصروفه وم.

زمونږ کارونه چې سر ته ورسېدل نو ټولو کارکوونکو ته مې رخصت ورکړو. دوې کېپ ټاون ته د سېل لپاره ولاړل او زه هم هلته ډربن کې ايساره شوم.

دنيا ته مې ټيلي فون وکړو او هغې راسره د ليدو پروګرام جوړکړو او مابنام شپږ بجې ورکره ولاړم. د ناستې په کوټه کې هرڅه په خپل ځای و، د سپوږمۍ معبد، په کې بله ډيوه، په دېوال د ځغلېدونکو اسونو انځور، يوې تور پوستې جينۍ مجسمه چې په امزري ناسته وه. د دنيا يوې خدمتګارې راته د مالټو اوبه راوړې. ما ورو ورو څښل او کله کله به مې د سپوږمۍ ډوله معبد شا ته وکتل چې د دنيا کوټې ته يې لاره تللې وه. ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت تېر شو نو دنیا د سپوږمۍ ډوله معبد تر څنګ په څرخي چوکۍ را ښکاره شوه. هغې سره یوه نرسه هم په سپینو جامو کې را روانه وه. دنیا د چوکۍ پایه پخپله ګرځوله، د هغې په پښو یوه نسواري کمبله غوړېدلې وه، ویښته یې په یو شین رومال تړلي و او د بندې غاړې خړ جمپر یې وجود پټ کړی و. زه ورپاسېدم او د دې ترغاړې ووتم، هغې زما شا ټپوله او نه پوهېدم چې څه ورته ووایم. ټول الفاظ زما په غاړه کې بند شول، خوله مې داسې وچه وه چې لاړې مې نه شوې تېرولې، یواځې په سترګو کې مې د اوبو ډنډ ولاړ و. ما ډېر غوښتل چې ځان قابو کړم او زلېخا راته خبرداري هم راکړی و چې دنیا سره که څوک زړه سوی وکړي نو د دې بد راځي. د دنیا په مخ دومره مېرانه وه چې زما زړه یې را ډک کړو، هغې په لاس کې نیولي رومال سره زما سترګې پاکې کړې او ټوکه یې وکړه چې زما د سترګو رانجه را بهېدلي دي. ما وخندل ځکه ما چرته په ژوند کې سترګې نه وې توري کړې. زه په صوفه کېناستم او د هغې لاس مې په خپلو لاسونو کې ونیولو. ورو ورو زمونږ خبرې پېل شوې، هغې د جیدار په هکله پوښتل، د تهمینې او ډاکټر شرما سره زما د ملاقات خبرې یې کولې، زما د زوی روپک د سبق پوښتنه یې وکړه، ټولې خبرې زما د ژوند سره تړلې وې. ما جرات نشو کولی چې د هغې د مرض او د علاج په هکله مې خبره کړې وای.

د هغې سترګې او مخ پړسېدلې و، کېدای شي د دارو اثر وي، د هغې د لاس نرۍ اوږدې ګوتې ژېړ بخنې وې، لکه چې داروګانو دهغې د وجود نه وینې زبېښلې وې. په یو کال کې دومره ښایسته ښځه څرنګه د مرګ انځور شوه، اخر ساینس دومره پرمختګ کړی دی، یو څه خو د دنیا د رنځ علاج به هم وي. زما او د دنیا تر منځ اوس هم یوه نالیدلې پرده موجوده وه، د هغې احساساتو معلومول څه اسانه کار نه و، ما چې له کله راهیسې دې سره پېژندلې و، یو وارې یې هم د شهریار ذکر نه و کړی، داسې لکه چې دا نوم هغې ته هیڅ مانا نه لرله.

په دې کور کې ما یواځې د ناستې کوټه او د بهر بنده برنډه لېدلې وه، دشهریارعکس په کې نه و. دا کور د شهریار پلار جوړکړی و، په کومه ورځ چې د دې جوړښت مکمل شو، د شهریار موراو پلار مړه شوي و، بیا هغه کله هم په دې کور ژوند نه وو کړی، غوښتل یې چې دنیا سره به د واده نه وروستو ورته کډه وکړي. د شهریار د مړینې اوس پنځلس کاله

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوره شوي و، لکه چې دنیا نه هر څه هېر و، بس د هغه مال دولت یې ترې واخیستو، خو دې ته هم ژوند اوس عذاب ګرځېدلی دی، کله کله انسان په خپل ښو او بدو نه پوهېږي. که شهریار سره یې هغه وخت واده کړی وې نو اوس به یې د روپک هومره زوی یا لور لرلې. دنیا ته مې یو کتاب دالۍ کړی و او دې د هغې کتاب پاڼې اړولې را اړولې. یوه نرسه چې را ښکاره شوه نو زه پوه شوم چې دنیا نور نشې کېناستې. هغې رانه رخصت واخیستو او بیا په څرخي چوکۍ د سپوږمۍ ډوله معبد تر شا ورکه شوه.

## څلورمه برخه

زه چې بېرته کورته راغلم نو زلېخا په خپله کوټه کې وه. زه هم هلته ورسره په کټ کېناستم او د دنیا حال مې ورته بیان کړو. بیا مې ترې پوښتنه وکړه، " ته دنیا ته څومره نږدې وې؟" د زلېخا پر مخ یو سیوری غوندې تېرشو، بیا یې ووېل، " دا ماته د خپلو اولادونو په څېر ګرانه وه، ما دهغې خبره له خولې واخیسته، "ګرانه وه... لږ غور وکړه یعنې وروسته درباندې ګرانه نه وه؟" زلېخا وموسیده او په مصنوعې قهر یې راته ووېل، " چپ شه په خبرو کې مه رالوېږه، " زه شېبه غلې وم بیا مې وپوښتل، " ستا او د دنیا ترمنځ یو څه خبره شوې وه او تا راته تر اوسه هغه خبره نه ده کړې" زلېخا سترګې پټې کړې وې او ما داسې انګېرله چې دا به اوس راته ووایي چې په هر څه کار مه لره خو هغې سترګې پرانستلې او راته یې ووېل، " د ټولې دنیا په نظر شهریار د دنیا لپاره مناسب هلک و او د دوې دواړو په خپلو کې تګ راتګ، دیو بل ته د کتلو او د خبرو نه هیچا ته دا شک نه و لوېدلی چې دوې د یو بل سره مینه نه کوي.
د دنیا د سالګرې په یو محفل کې ټولو داسې انګېرله چې دوې ممکن د کوژدنې اعلان وکړي. په هغه شپه دنیا ناوې شوې وه، اتشي ګلابي کمیس یې د مریو ډک و، چا راته ووېل، شهریار دا کمیس ورته د جاپان نه راوړی و، اصلي ملغلرې ورباندې لګیدلي و. همدغسې ملغرې دنیا په خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وېښتو کې هم ټومبلې و. دوې دواړه ډېر خوشحاله معلومېدل، شهريار څو واري دا د لاس نه نيولی خپلو مېلمنو سره معرفي کړې وه.
د کېک د پرېکولو پر وخت شهريار ورسره جوخت ولاړ و، زما په شان ډېرو خلکو دنيا او شهريار ته بېل بېل وېلې چې هم په دې مېلمستيا کې دې کوژدنې اعلان وکړي. شهريار به د دې خبرې په ځواب کې دنيا ته وکتل چې دا به فېصله کوي او دنيا به په ټوکو خبره بلې خوا ته واړوله. دنيا ورته سم ځواب نه وېلو. نور کله به يې هم دا خبره په خندا کې تېره کړه، کله به يې وېل زه وخت غواړم، کله يې وې تر څو چې نېلسن منډېلا له بنده نه وې را خوشې شوی زه واده نشم کولی. زلېخا لا نورې خبره هم کولې خو يوه خدمتګاره را دننه شوه او مونږ ډوډۍ ته راوچت شو.
زمونږ خبرې په دوډۍ هم رواني وې او هغه شپه چې زه د خوب لپاره په کټ پرېوتم نو د زلېخا خبرې مې بيا بيا اورېدې. په تصور کې مې لېدل چې شهريار به څنګه دنيا ته مينت زارۍ کړې وې. څه څه به يې ورته وېلې وي، دنيا ولې ورسره دومره کلکه وه؟ ده خو ډېره نازولې او بيا د دې لپاره چې د دې پام ځان ته واړوي، د دفتر يوې بلې جينۍ شيرين ته نږدې شو و. خو په ځای ددې چې دنيا خپله لاره بدله کړي شهريار سره يې جنګ وکړو چې دا لوبې مه کوه. د حسد په ځای يې ورته وېلې و که شيرين دې خوښه ده نو واده ورسره وکړه. بيا چې شهريار ورته د ځان وژلو ګواښ وکړو نو دنيا ترېنه دومره زړه بدې شوه چې تر ورځو ورځو يې ورسره خبرې نه کولې. شهريار د روغې لپاره د زلېخا کورته راغلو نو دلته څومره لوی جنګ به شوې و. دنيا ورته په ډاګه ووېل، چې که داسې جذباتي فشار وربانديې راوړي نو کېدی شي ټول عمر د شهريار مخ ونه وينې.
د شهريار يو څو خپلوانو د فانوس نومې شرکت کې کار کوو. شيرين هم د شهريار د ترور لور وه او د شيرين د نوم سره مې دهغې کارټ را ياد شو.
زلېخا د چايو نه سمدستي وروسته چرته تللې وه، ما د کور په ټيلي فون شيرين سره خبرې وکړې، هغه په دفتر کې وه، يوولس بجې مې ورسره د ليدو وخت وټاکلو. مانه غوښتل چې زلېخا زما د پرګرام نه خبره شي ځکه داسې احساس راته کېدو چې هغه راته پوره حال نه وايي. په داسې وختونو کې چې ما به د زلېخا موټر نه لرلو، نو د يوې کمپنۍ نه شخصي ګاډی په کرايه کوو. دې کمپنۍ کې ته مې ټيلي فون وکړو او لس بجې ګاډې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرېور سره حاضر و. د کور خدمتګارانو ته مې ووېل چې زه د ډربن په چکر اوځم او ماښام به راځم. د خپلې خبرې د ريښتيا کولو لپاره مې يو ساعت د سمندر په غاړه وخت تېر کړو.
د فانوس شرکت د هغې دنګې ودانۍ د لومړی پوړ ټوله برخه نيولې وه. په رېسيپشن کې يوه تور پوستې جينۍ ناسته وه او زما د کارټ په ليدو يې د مېلمنو په رجسټر کې زما نوم وليکلو. بيا يې د شيرين دفتر ته خبر ورکړو او لږه شېبه وروسته د هغه سکرټر راپسې راغی. زه يې يو لوی کوټې ته بوتلم چې لس دولس کسان په کې په کمپيوټرو ناست و. د شيرين دفتر د دې لوی کوټې بل سر ته و او د شيشې د ديوال نه مې د هغې مخ وليدو. دا په ټيلي فون بوخته وه، سکرټر راته د دې د کوټې دروازه پرانستله، شيرين د لاس په اشاره راته دکېناستلو ووېل او زه د يو ګول مېز سره اېښی په څرمني پوښل شوی کرسۍ کېناستم. تر څو چې دې په ټيلي فون خبرې کولې، ما په دفتر کې اېښي شيانو ته کتل.
د هغې په مېز د کمپيوټر شا وخوا کاغذونه او فائلونه و، د خاورو يوه غټه پياله کې نيمه کافي څښل شوې وه او نيمه تراوسه پاتې وه. د پيالې د پاسه ليکلې و "ايډز ووژنۍ" مخامخ په دېوال د دوو ماشومو جينکو تصويرونه و چې يو شان د اوسپنې په فريمونو کې بند و. شباهت يې شيرين ته نه و، ښايي ورېرې يا خورزې يې وې. د الماری د پاسه د بادبانې بېړۍ يو وړوکې ماډل د لرګي نه جوړ اېښی و. په دې لرګينې بېړۍ يو خوا ته فانوس ليکلی و. شيرين خبرې خلاصې کړې، ماته يې سترې مه شې ووېل او رانه يې پوښتنه وکړه، "چای څښې که کافي؟" ما د چايو ورته ووېل نو دې بيا پوښتنه وکړه، " مونږ. سرې چای هم لرو، که ګرمې دې شوې وې دا به درته راوغواړو" ما وخندل او ورته مې سر د خوځولو په اشاره ووېل، "سرې چاې به ډېرې ښې وي خو چې واوره په کې نه وي" هغې خپل سکتر ته په ټيلي فون کې د چايو امر ورکړو اومونږ. خبرې پېل کړې. هغې د خپلو کارونو او د فانوس شرکت په هکله معلومات راکول بيا يې وويل، " ته خو تېر کال هم راغلې وې، دنيا سره دې ليدلی و؟" ما د دنيا سره د خپل ملاقات حال ورته ووېلو نو شيرين حيرانه وه چې هغه وخت دنيا ولې زه د فانوس شرکت دفتر ته نه وم را بللې.
ما ورته د خپلو مصروفيتونو حال ووېلو، بيا مې ترې د شهريار پوښتنه وکړه نود شيرين دمخ رنګ بدل شو، راته يې وويل، " شهريار ډېر اوچت

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسان و، ژوند ورسره وفا ونکړه، زمونږ په خاندان کې اوس یو سړی داسې نه دی پاتې چې دا دومره لوی شرکت سمبال کړي، دنیا چې تر څو روغه وه، ډېر کار یې په کې وکړو خو اوس هغه هم له پښو لوېدلې ده. ما شیرین ته خواست وکړو چې د شهریار دفتر لیدل غواړم. هغه زړه نا زړه وه، زما هدف ورته نه و څرګند. ډاډ مې ورله ورکړو چې دنیا سره مې یو څه ملګرتیا پیدا شوې ده، غواړم چې په خپلو سترګو د دې دفتر ووینم، ښایي دنیا به لږه موده وړاندې پورې هم د شهریار په دفتر کې کیناستله.
شیرین زما خبره رد کړه، " دنیا چري هم د شهریار په دفتر کې نه ده کېناستلې، د شهریار دفتر هم هاغسې ساتل شوی دی څنګه چې د هغه له مړینې وړاندې و."
" بیا خو نور هم ضرور دی چې زه دا ځای ووینم،" ما په ټینګار ووېل، شیرین راپاڅېده او زه ورپسې له کوټې ووتلم. د لوی تالار نه په تېرېدو ټول کارکوونکي په احترام شیرین ته ودرېدل، هغې ورته په ځواب کې هیلو ووېل او وړاندې به ولاړه. د تالار په وروستی سر کې یوه دروازه بره پوښو ته خلاصېده، مونږ له دې دروازې ووتلو او څو پوښو په ختلو د بل منزل په را هدارۍ کې ودرېدو. هم هلته یو اوږد دهلېز یوې لوې کوټې ته غځېدلی و. شیرین ما ته په اشاره د ودرېدو ووېل او په خپله د راهدارۍ بلې خوا ته جوړې وړې کوټې ته ولاړه.
لږه شیبه وروسته چې راووتله نو یو تور پوستی ساتندوی په خړ یونیفارم کې ورسره و. د ده ملا سره یو زنځیر پورې بې شمېره کنجیانې ځوړندې وې، ده راته سر ټیټ کړو او د دهلیز بل سر ته د کوټې په لورې ولاړو. د دې کوټې د دروازې جرنده یې پرانستله او مونږ ته یې یوه دروازه خلاصه ونیوله. شیرین او زه کوټې ته ورننوتلو.
د شهریار په دفتر کې د پینځلسو کالو راهیسې څوک نه کېناستل خو داسې احساس مې وکړو لکه چې اوس اوس څوک په کې ناست و او یوې شېبې له ترې بهر وتلی دی. د لوی مېز شیشه داسې پاکه وه چې د چت پکی او رڼاګانې په کې ښکارېدې، په یوه بلورینه کاسه کې تازه ځنګلي ګلونو ګېډې ایښې وې. دلته کمپیوټر نه و خو درې ښېلا ښېلو رنګونو ټېلې فونونه په لوی مېز پراته و. د دېوالونو سره الماری او شیلفونه جوړ و، په ځینو کې کتابونه و، ځینې تش وو. په یو کې د لرګي جوړ افریقایي مجسمې وي، زیات تره ځنګلي ځناور و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دفتر په لوی مېز یو د سپینو زرو فرېم هم و، په دې کې د لګېدلی عکس مخه هغې چوکۍ ته وه چې شهریار به ورباندې کېناستو. ما دا تصویر لېدل غوښتل، په زړه کې مې تلوسه را وپارېده. د مېز بلې خوا ته ورغلم، زما د توقع خلاف هغه تصویر د دنیا نه و . هغه توراو سپین تصویر د شهریار د موراو پلار و. ښایي د دوې د ځوانۍ تصویر و، شیرین راته ووېل، " دا تصویر شهریار د مور او پلار د مړینې نه وروسته په دې دفتر کې کیښودو" ما ترې پوښتنه وکړه، " د دنیا تصویر دلته نشته؟" شیرین ووېل، " د دنیا یو لوی تصویر په دې مخامخ دېوال لګېدلی و، یو څو میاشتې کېږي چې د هغې په غوښتنه مو له دې ځایه لرې کړی دی. زما په فکر د هغې خور تهمینې له ځانه سره انګلستان ته یوړو. " د دنیا دفتر په کوم ځای کې دی؟" شیرین د دفتر یو سر کې جوړ دروازې ته اشاره وکړه، بیا ولاړه او هغه یې پرانستله.
داسې ښکارېده چې د شهریار دفتر ډېر لوې و او په دې کې د لرګې یو دېوال دا کوټه نیمه کړې وه. مونږ چې په دې کې جوړ دروازې نه بلې خوا ته ولاړو نو ما ته اندازه وشوه چې دنیا په شهریار څومره ګرانه وه.
هغه بله کوټه لویه وه، په مېز کمپیوټر ایښی و، د دېوال سره لویه صوفه او د تور لرګي مېزونه د کوټې ښایست و. په کړکیو قیمتي طلاي رنګه پردې ځوړندې وې او په دېوالونو د لاس جوړ شوی ښکلی انځورونه و چې په کې د افریقه غرونه او سمندري ننداري ښکارېدې. دا دفتر ریښتیا چې د دنیا وړ و. ما د شیرین نه پوښتنه وکړه، " اوس دلته څوک کښېنې؟" هغې ووېل، " کله کله رابرټ یا ګیتي د دنیا په کمپیوټر کې د فایلونو د لېدو لپاره راشي او کله چې کار خلاص کړي نو بیا ځي.
هر سحر دا دواړه کوټې هم هاغسې پاکېږي لکه چې پخوا کېدل. یو چا شیرین ته په موبایل ټیلي فون زنګ تېر کړو نو مونږ بېرته د شیرین دفتر ته راغلو. هلته په مېز د شیشې په یو لوی ګېلاس کې زما سړې چای ایښی وې، ورسره په یوه کاسه کې د واورې ټوټې او یوه قاشوغه هم و. د سړو چایو د ګیلاس په څنډه نیم پرېکړی لیمو ټومبلی و. مونږ کېناستو نو چای مې را واخیستې، شیرین تر اوسه په ټیلي فون خبرې کولې او بیا ولاړه بهر د خپلو کارونو پسې ووتله. بېرته چې راغله نو معذرت یې وغوښتو، ما ورته وویل، " که بد ونه ګڼې نو د دنیا په هکله یو څو پوښتنې درنه وکړم.
هغه یو څه نا ارامه غوندې شوه، بیا یې ووېل، " که ځواب راسره نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو دا راته بد ښکاري ځکه دنیا ناروغه ده، تراوسه زمونږ د شرکت مشره او زما د خپلوانو نه هم ده"
ما ورته ووېل،" که ځواب نشې راکولې، زه پرې نه خفه کېږم، خو په زړه کې مې یوه غوټه ده. شهریار د دنیا سره دومره مینه کوله، خپله ټوله هستي یې د دې په نوم کړه، ولې دنیا د ده سره واده نه کوو؟ ددې د انکار سبب څه و؟" شیرین یوه اوږده ساه راښکله او شیبه غلې وه، بیا یې پوښتنه را غبرګه کړه، " ته څه فکر کوې چې ولې هغې فېصله نشوه کولې؟" اوس زه راګېره شوم. زلېخا زما کوربه وه، ما سره یې ډېره مرسته کړې وه، سلېمان د هغې خاوند و، ځان راته ډېر سپک ښکارېدو چې د یو مړ کس په هکله څه ووایم. شیرین زما مخ ته کتل، ما ورته ووېل، " زه داسې انګېرمه چې د دنیا د بل چا سره مینه وه،" د شیرین په تندي ګونځې پیدا شوې، " هو ما هم داسې ګڼله او تر ډېرې مودې مې همدغه نظر و چې هغه بل کس واده دی، د خپلې مېرمنې سره ښه خوشاله ژوند کوي او دنیا لیونۍ شوې ده چې په داسې لاره مزل کوي چې منزل ته نه ځي." د شیرین غږ لوړ شو، یو څه په قهر وه، " زما په شان ځینو خلکو په دې دفتر کې هم داسې ګڼله خو د اصل کیسې نه هېڅوک خبر نه دی." د شیرین غږ ورو شو داسې لکه چې سلګۍ وهي. زه دهغې کرسۍ ته نږدې شوم، "اصل کیسه څه ده؟" ما هڅه وکړه چې په خپل اواز کې تلوسه څرګنده نه کړم.
شیرین بیا غلې وه، اوس یې په سترګو کې رڼا هم نه ښکارېده، بیا داسې لکه چې ځان سره لګیا وي، په وینا شوه. " هم هغه واده شوی شړی چې دا یې له ځانه سره ګرځوله، په سیاسي جلسو کې به یې د لاسه نیولې وه، په دې مئین و. دا یې هېڅ نه پرېښوده چې د خپل ژوند فېصله وکړي، دا به دفتر ته هم راتله نو ورپسې به یې لس وارې ټیلي فون کوو. د دنیا سیکرټره مالتي نومېده چې وروسته بیا زما دفتر ته را بدل شوه، د هر څه نه خبره وه. دنیا څو وارې مالتي ته وېلې و چې که د سلېمان ټیلي فون راشي نو ورته ووایه دا په غونډه کې ده.
شهریار هم د دې نه خبر نه و. هغه هم لکه د نورو په شان داسې فکر کوو چې دنیا د زو..." شیرین نږدې وه چې د زلېخا نوم اخیستې وای خو الفاظ یې د ژبې لاندې ونیول. یو څو شیبې یې فکر کوو چې څه ډول خبره وکړي. بیا یې ډېر په احتیاط ووېل، " دنیا اوس چې څرنګه ده، پخوا داسې نه وه. دهر چا په خبره به یې باورکوو، هر څه به یې ریښتیا ګڼل . لکه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوې ما شومې وه." ما شیرین نه پو ښتنه وکړه، " ته دنیا د نږدې نه پېژنې ، آیا دی د شهریار سره مینه لرله که نه یواځې په کالو او جامو مئینه وه؟" شیرین سمدلاسه ووېل، " ټولو خلکو داسې فکر کوو چې دنیا زرپرسته ده، د شهریار مال خوري او واده ورسره نه کوي.
خو داسې نه وه، شهریارسره چې دنیا څومره مینه کوله، ښائې په خپله د شهریار هم نه وه. زه یو وارې د فانوس د ځینو کارونو لپاره د شهریار کورته ولاړم. دی تر هغې وخت د خپل پلار جوړ شوی کور چې اوس په کې دنیا اوسېږي نه و تللی. دا بل کور د سمندر په غاړه جوړ دی، هلته مې د دنیا موټر ولېدو. دا د چوټۍ ورځ وه، خدمتګار راته ووېل، " شهریار د مندې لپاره بهرساحل ته وتلی و. دنیا له ما لږ وړاندې هلته رسېدلې وه او کله چې دهغې نه مې پوښتنه وکړه نو خدمتګار د شا برنډې ته بوتلم. هلته خبره یې چې دنیا څه کول؟...په خپلو لاسونو یې د شهریار خېرن کالي ونیځل. زما په لیدو یې راته ووېل،" هغه بله ورځ د شهریار په سپین کمیس مې غوړ داغ ولیدو، بس اوس مې فېصله کړېده چې د دې کمیسونه به په خپله وینځم.
شیرین په مېز ایښې کاغذي رومال ته لاس کړو نو زما ورته پام شو، د هغې سترګې لمدې وې. ما شیرین نه بخښنه وغوښته او ورته مې ووېل، " نور دې نه په عذابوم، بس دا راته ووایه چې د شهریار په مړینې کې د چا لاس و؟" د شیرین تندی بیا ګونځې شو خو وې وېل،" د هیچا لاس نه و، بس دا د قسمت خبرې دې. شهریار او دنیا د واده فېصله کړې وه خو د هر چا نه یې پټه ساتلې وه. شهریار غوښتل چې د هغه نوی کور د دنیا په نوم شي. د مورپلار هر څه یې دې ته سپارل. په فانوس کې یې هم د دنیا لپاره ونډه وه. په کومه ورځ چې په ټولو کاغذونو دستخطونه وشول، زه هلته موجوده وم. له بده مرغه د شهریار وکیل ایډورډ د سلېمان هم ملګری و او نه پو هېږم چې څرنګه او کله یې سلېمان خبرکړی و.
د شهریار د مړینې په ورځ سلېمان هم د دنیا کورته تللی و او داسې ښاي چې دنیا نه یې د هغې د ژوند د فېصلو په هکله پوښتنې کولې. د دنیا په کور کې ټولو پخوانیو نوکرانو دا خبره کوله چې په هغه ورځ سلېمان ډېر په قهر و او دنیا څو وارې په ژړا له کوره وتلې وه. سلېمان به ببرته دننه بوتله. یوه خبره چې د دنیا زړې آیا راته وکړه، دا وه چې سلېمان ورته څو وارې ووېل، " ته زما نه بغېر هیڅ هم نه یې."

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیرین څو شیبې غلې وه، بیا یې ووېل،" سلېمان په هغه ورځ د دنیا سره ډېره بده وضع کوله او کله چې په قهر له هغه ځایه ولاړو نو دنیا تر ماښامه په برانډه کې ناسته وه، ژړل یې. داسې ښاي چې په هغه ماښام شهریار چې د دنیا حالت ولیدو نو ډیر خواشینی شو ځکه خدمتګارانو نیم ساعت وروستو دی ډېر په قهر او په غضب د موټر په لورې روان ولیدو او موټر دومره په سرعت له کوره ووتلو چې د دېوال یوه تېږه یې هم ماته کړه،"
دشیرین ستونی بیا غریو ونیولو خو خبره یې جاري وساتله، دکور نه تلونکی سرک په لومړي ګوټپېر د شهریار د موټر د غورځېدو غږ دومره لوړ و چې په کور کې دننه ناستې دنیا هم واورېدو. هغه لکه د لېونو یېلې پښې په منډو وه. خدمتګارانو ډېر په ګرانه دا ایساره کړه، ګني هغې هم ځان له دې غونډۍ ښکته اچولو. د شیرین له سترګو اوښکې بیا روانې وې، دهغې غم دومره ژور و ما هیڅ اندازه نه شوه لګولې. تر ډېره وخته مونږ دواړه غلي ناست و، هغې چې ښه وژړل نو سترګې یې په کاغذي رومال پاکې کړې، پوزه یې سره وه او ما سره یې سترګې نشوې لګولې خپله کرسۍ یې د کمپیوټر مېز ته نږدې کړه او بې مقصده یې ګوتې په کار اخته شوې.
زه پوهېدم چې شیرین به له ما سره بهر دفتر ته نه راووځي، ما ته هم هلته خپل وجود بې ځایه ښکاره شو. ورو غونډې راپاڅېدمه او شیرین ته مې خدای په امان ووېل. د هغې مخ هم هاغسې د کمپیوټر په لورې و خو زما د خدای په امانی ځواب یې راکړو.
زه د فانوس دفتر نه بهر راووتلم، د لمر وړانګو زما د سترګو نظر کم کړو، بې اختیاره مې لاس خپل بیګ ته شو. د لمر تورې عینکې مې را وویستلې په سترګو مې کړې او د خپل موټر په لټه کې شوم.

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**